

لومړۍ شعري ټولګه

# روڼ سحر

وینا وال : تاج الدین سحرؔ

خپرندوے : پښتو ادبي پېوستون سرائے نورنګ

بِسمِ اللّٰهِ الرَّحمٰنِ الرَّحيمِ

لومړۍ شعري ټولګه

# روڼ سحر

**وېناوال :** تاج الدین سحر

خېروخېل ضلع لکي مروت

**چاپکال :** اګست/ ۲۰۱۰۰

**خپرندوی :**

پښتو ادبي پېوستون سرای نورنګ

www.pukhto.net

حقوق د حقدار دي
*******

# کتاب پېژندنه

*************

دکتاب نوم * روڼ سحر

وېناوال * تاج الدين سحر

چاپکال * اګست / ۲۰۱۰ ·

چاپځاے *

د کتابونو شمېر * پنځهٔ سوه (۵۰۰ ) ټوکه

پروف ريډنګ * نعمت الله خېروخېل

کمپوزچارې * سليم قرار کُنړ افغانستان (حال) نورنګ

خپرندوے * پښتوادبي پېوستون سراے نورنګ

بيه * ۱۲۰ روپۍ

*********************

**يادښت:** د دې ټولګې نوم اول "سحر" خوښ کړے شوے ؤ خوکله چې د کمپيوټر د خپتې نه رااوويستل شو نو د څهٔ وجوهاتو پهٔ بنا ئې نوم پهٔ "روڼ سحر" بدل شو۔ نو د صفحاتو پهٔ سر څکه "سحر" ليکلے شوے دے ۔ هيله ده چې لوستونکي ئې "روڼ سحر" وګڼي ·

"مننه"

www.pukhto.net

# تړون

د خپل اروابناد پلار په نوم
چا چې د کم تعلیم باوجود
په یو غیر ادبي ماحول کښې
زۀ همیشه دې کار ته هڅولے یم
او ماته ئې ډاډګیرنه راکړې ده ٠

www.pukhto.net

# سحر

څۀ دليکلوجرأت اوجسارت کوم خو۰۰۰۰۰۰ دې سره سره د خپلې کم علمۍ اعتراف هم کوم۰۰۰۰۰۰۰۰۰ "رون سحر" د سحر صېب دغزلو او نظمونو هغه د قدر وړ مجموعه ده چې مقصد ئې د هغه روايت مخ پۀ وړاندې بوتلۀ دي کوم چې زمونږ مشرانو محترم رحمت الله درد او عبدالرحيم مجذوب صېب پۀ دې خاوره شروع کړے ، پوخ کړے او مقبول کړے هم دے۔ کوم چې دوے ښاغليو ته تلعمري شهرت او عزت بخښلے دے ۔ درد غزل د ښائيست تر بام او کمال تر اخري مقام ورساوۀ او مجذوب نظم ۔ او که ددې دواړو رنګ او ترنګ پۀ يو وخت پۀ اِک يوازې شخصيت کښې پۀ نظر راځي نو هغه زما پۀ خيال سحر دے ۔ ولې به نۀ وي چې د ژوندي زړۀ ، ويښ ضمير او د ځوانو جذبو څښتن دے ۔ دومره حساس چې کله کله خو د دوے دا حساسيت زۀ پټ پۀ پټه پۀ تصور کښې پۀ هغه بې حسه شاعرانو او ليکوالو هم وېشل وغواړم چې ايوب صابر هم ترې ګيله من وۀ ۰۰۰۰۰۰۰ خو کاش چې داسې ما کولے شوے ۰

خداے ګواه دے چې سحر صېب ما تراوسه پورې د
غزل شاعر ګڼلے او منلے دے خو پهٔ دې مجموعه
صېب دغزلو او نظمونو هغه د قدر وړ مجموعه ده
چې مقصد ئې د هغه روایت مخ پهٔ وړاندې بوتلهٔ
دي کوم چې زمونږ مشرانو محترم رحمت الله درد
او عبدالرحیم مجذوب صېب پهٔ دې خاوره شروع
کړے ، پوخ کړے او مقبول کړے هم دے۔ کوم چې
دوے ښاغلیو ته تلعمرې شهرت او عزت بخښلے
دے ۔ درد غزل د ښائیست تر بام او کمال تر اخري
مقام ورساوهٔ او مجذوب نظم ۔ او که ددې دواړو
رنګ او ترنګ پهٔ یو وخت پهٔ اِك یوازې شخصیت
کښې پهٔ نظر راځي نو هغه زما پهٔ خیال سحر دے ۔
ولې به نهٔ وي چې د ژوندي زړهٔ ، ویښ ضمیر او د
ځوانو جذبو څښتن دے ۔ دومره حساس چې کله
کله خو د دوے دا حساسیت زهٔ پټ پهٔ پټه پهٔ تصور
کښې پهٔ هغه بې حسه شاعرانو او لیکوالو هم
وېشل وغواړم چې ایوب صابر هم ترې ګیله من وهٔ
۰۰۰۰۰۰۰ خو کاش چې داسې ما کولے شوے ۰

خداے ګواه دے چې سحر صېب ما تراوسه پورې د
غزل شاعر ګڼلے او منلے دے خو پهٔ دې مجموعه

www.pukhto.net

کښې هغه په زړهٔ پورې روماني او مقصدي نظمونه مخې ته راغلهٔ چې زهٔ ئې په دوؤ کښې حېران کړم چې سحر صېب غزلبول که نظمبول شاعر تسليم کړم ـ نظم ئې لهٔ غزل او غزل ئې لهٔ نظم ښکلے اوسپېڅلے دے او دا کمال او هنر په ادب کښې خال خال ليکوالو ته تر لاسه دے ـ ځکه خو ئې زهٔ د ګران قمر راهي ، اروابناد قلندرمومند او ښاغلي عبدالرحيم مجذوب سره پهٔ يو صف کښې ودروم چې د دوے د شعر غرض او غايت هم يو دے ـ پاتې شوه د غزل بې تاج بادشاه د رحمت الله درد د غزل خبره د سحر صېب پهٔ غزل کښې هم هغه رنګ هغه خوږهٔ هغه کړهٔ وړهٔ او هغه سرهٔ پهٔ نظر راځي چې د موجوده دور د هر غزلبول پهٔ غزل کښې لکه د نمر برېښي ـ نو چې د درد او مجذوب فن انتها ته ورسي نو سحر ترې ساز شي ځکه خو زهٔ د سحر غزل ته ماشاألله او نظم ته سبحان الله وايم او بيا بيا وايم ٠

د سحر صېب غزل د فني او هنري صلاحيتونو پهٔ حواله د نوخېزه فکر خوږهٔ هم لري او د خپل ماحول او علاقې د کوټلي روايتونو امانتګري هم کوي ـ د دوے فکر او روڼ تخيل چې کله هم د لفظي اظهار مخه کړې ده نو پښتو غزل ته ئې يوه نوې باريکي او پهٔ زړهٔ پورې ښائيستګي ورکړے ده

www.pukhto.net

داسې باريکي او ښائيستګي چې د خپلو معنو او مفهومونو په اساس د غزل په نازك بدن بار نۀ لګي بلکه دغه باريکي او ښائيستګي ، نزاکت او حساسيت ئې هر شعر د سهلِ ممتنع هنداره ګرځوي ـ د هغه د غزل هره مطلع دومره چسته ، برجسته ، پُرکېفه او روانه وي چې پۀ اول نظر کښې قاري او سامع پوره غزل لوستو او اورېدو ته پاروي ـ دومره پۀ زړۀ پورې قافئې او نوي زړۀ راښکونکې رديفونه چې د سړي نه وچ پۀ زور داد اخلي ـ اوګورئ دا څو مطلعې :

مړشوے اورمې دزړۀ بيا رابلوي پۀ لمن
دسترګواوښکې مې چې ښکلے وچوي پۀ لمن

خدايه پۀ تاسپارو دخپلو امېدونو چنار
نړی د سېلمې راله ولي پۀ بمونو چنار

ستاکبرجن مغزي ته هاراوسنګاردواړه ښۀ دي
دا قاتلان د تا د حسن پۀ دار دواړه ښۀ دي

پۀ کوم يوځاے چې وۀ پرون دسرولاسونواتڼ
نن پۀ هغه ځاے کښې شروع دے دبمونواتڼ

www.pukhto.net

سحر صیب غزل د تغزل انتها ته رسولے دے ـ هغه د لفظونو جادوګري ئې پکښې کړې ده چې عقل ورته ګوته په غاښ پاتې شي ـ د محاورې ترکيب او متل استعمال ئې په شعر کښې داسې په هنر کړے چې د لوستو او اورېدو سره سم زړهٔ ته پرېوځي او چې څومره ئې لولې هومره پکښې پټې نکتې خپل سر پورته کوي او د شعر ښکلا او ځلا زياتوي ـ دې لانديني شعر کښې "شوکوه" توري څومره خوند پيدا کړے دے :

دې نظارو نه نظر مه شوکوه
چې په خولهٔ خاندي او بهېږي اوښکې

دا متل ئې هم په شعر کښې د کتو وړ دے "عمل د لارې مل" :

د خطرو په لار يوازې مه ځه
ځانته عمل دلارې مل ونيسه

د حسنِ تعليل نمونه ئې وګورئ :

د چا لهٔ غمه پسرلو وژړل
دګل په پاڼو معلومېږي اوښکې

تغزل ئې هم وځيروئ :

بيا لکه د څانګې په شا لاړله
بيائې راژوندے شودسيالي فطرت

چې قصه د ننګ او د پت شي نو پښتون سحر په ـ

www.pukhto.net

رقیب هم سر خوري :

د یار په چم کښې قصه ننګ ته لاړه
اوس په رقیب هم سرشیندل پکار دي

دې لاندیني شعر کښې چې د "مېږه تره" توره کوم کېف او سرور زېږوي هغه هم د ستائیلو او ساتلو وړ دے :

زهٔ دبنګړوخوړې سندرې ته مېږه تره یم
وبه ترپېږم اژدها د کمڅۍ مه اړوه

خودداري ئې هم وګورئ :

ګدائي کښې ډېر درونه
او په فقرکښې یودر دے

قناعت ئې :

تهٔ د حسن سمندر ئې څهٔ به درکړم
زماسترګوکښې خودوه څاڅکي اوبهٔ دي

ملګیري کښې لهٔ ملګرو لوګے سحر څهٔ په ډاډه زړهٔ وائي :

تهٔ نظر راباندې مات کړه
زهٔ خو هسې سپېلنے یم

په پښتو اوپښتون مئین سحر حسن هم پښتون غواړي :

www.pukhto.net

حسن پۀ څو قسمه پۀ څو رنګه خو

وي چې پښتنه نو لیلا ښه لګي

حسن پۀ خارج کښې دے که پۀ داخل کښې؟ سحر صیب وائي :

موقوف پۀ داده چې درون کښې دچاکوم موسم دے

چې زړۀ خوشحال وي نو خزان او بهار دواړه ښۀ دي

ستا دحسن نه جوړهریومنظر ښکل کړم

که د خپلو سترګو ښکلے نظر ښکل کړم

وګورئ دا معاصر شعر ئې :

څوك به افغان بچي ته تللے اعتماد ورکوي

پۀ لړزېدلي مخ ئې جوړ دے د رنګونو اتڼ

د مادرپدر ازاد نظام پحقله او د بې انصافۍ پۀ باب له ئې دا شعر د کتو وړ دے :

پخپله اخلي، خپله څکي، دلته د واك خاوندان

پۀ وېش د میو د ساقي څۀ اختیار پاتې نۀ دے

ننګ د میو پۀ چا شي او پۀ چا نۀ شي

که پۀ وار وي نو د لیکې پۀ سر ناست یم

جرګې تاوان دواړو ته غاړه ږدي خو یار نۀ بائیلي ما که پۀ جرګه کښې درکتلي دي

راغلم پۀ جرګه رانه تاوان واخله

حدیث پاك دے "اَلدُّنیَا مَزرَعَةُ الاٰخِرَة " (دنیا د آخرت پټے دے) ۔ سحر وائي :

www.pukhto.net

تا اختياردکروندې دچمن راکړو
ما ګلونه نۀ کرل زۀ ملامت يم

سحرصېب څۀ پۀ نوي اندازکښې ديارزلفې ستائي :

کومې زلفې چې تا ماته زولنې کړې
ماهغه زلفې پۀ زړۀ کښې مېلمنې کړې

د رنګين مزاجۍ او زنده دلۍ رنګ ئې هم وګورئ

چې زړۀ لرم، احساس لرم، د ښکليو چم کښې اوسم
څنګه کېدے شي چې د چا انتظار نۀ کومه

اوس راځو د سحر صېب د نظم پۀ لوري ـ وائي چې پۀ غزل کښې د شعر پۀ جوړښت کښې د قلبي وارداتو ډېر عمل دخل وي او پۀ نظم کښې د ذهن ········ خو کاميابه شاعر هم هغه ګڼلے شي چې پۀ دواړو کښې د زړۀ او ذهن نه کار واخلي ـ سحر صېب هم چې پۀ نظم کښې د خيال سره سره د لفظونو بندش، سِحرګره منظرکشي، استعارې، تلازمات، تشبيهات او کومه مخصوصه علاقائي لهجه پکار راوستې ده هغه هم د کتو ده د صنف پۀ حواله پۀ "روڼ سحر" کښې نزدې نزدې د هر صنف نظم پۀ نظر راځي چې خپل مقصد پۀ احسنه طريقه تر سره کوي او يو مؤثر ابلاغ هم لري ········· "دعا" نومې نظم کښې پۀ ايمان فروشو څۀ ښکلے طنز کوي ـ پۀ قرآن مجيد ـ

www.pukhto.net

فرقان حميد کښې ارشاد باري تعالیٰ دے "وَلاَ تَشتَرُوا بِاٰیٰتِیْ ثَمَناً قَلِیلاَ " او تاسو د قراٰن آيتونه پهٔ نهٔ څهٔ پيسو مهٔ خرڅوئ :

څوك پهٔ دين سوداګري کړو
څوك کافر ته سرټيټې کړو
څوك جهاد خيانتي کړو
د غرض اوبه مو زنې ته راخېژي
لهٔ کردارمودشيطان سترګې شرمېږي

يو بل ځاے پهٔ کلام پاك کښې د رب ذوالجلال حکم دے "وَاعتَصِمُوا بِحَبلِ اللّٰهِ جَمِیعاً " او تاسو د خداے رسۍ کلکه پهٔ اتفاق ونيسئ يعني پهٔ خپلو کښې سره يو موټے شئ ـ سحر صيب وائي :

مونږ رسۍ ده ټوټې کړې
هر يو ځان ته ده نيولې
خپله لار ګنو پياوړې
د نبيﷺ اُمت تيارو نه رابهر کړه
چېرې نمر ته اراده وکړه سحر کړه

حديث پاك دے "کُلکُم رَاعِ وَ کُلکُم مَسئُولُ عَن الرَّعِيتِهِ " تاسو کښې هريوشپونکے دے اودهرچانه به د خپلې رمې پهٔ باب له پوښتنه کېږي ۰۰۰۰۰ پهٔ "اِنِّی کُنتُ مِنَ الظّٰلِمِینَ" نومې نظم کښې هم

www.pukhto.net

سحر صېب دا خبره کوي او هر څوک د خپل ضمير پهٔ عدالت کښې ودروي اوذمه واري احساس ورکوي

"د حوا لور" نومې نظم کښې انسان ته د شرعي حکم نه د روګرداني او هيله جويي احساس ورکوي چې مونږ خور لور پهٔ ميراث کښې محرومه کړې ده :

زما د پښو لاندې جنت شته دے خوکورمې نهٔ شته

اسلام راکړے حق چې راکړي هغه ورور مې نهٔ شته

"بوالهوس" د سحر صېب هغه شاهکار نظم دے چې فن او مقصديت پکښې کمال ته رسېدلے ـ نهٔ پوهېږم چې زهٔ دې نظم ته کوم نوم ورکړم ـ منظومه افسانه که افسانوي نظم ؟ چې د سحر صېب پهٔ باب له پخپله خپل سند دے ـ زهٔ خو وايم چې که سحر صېب پهٔ ژوند دغه اِکې يو نظم ليکلے وے نو دا هم د هغهٔ د ښهٔ نظم ګو دپاره بس وو.......

يو ځل سليم قرار صېب څهٔ پهٔ مستانه او رندانه انداز کښې فرمائيلي وو :

که پهٔ مروتوکښې غزل دے نود درد غزل دے

نظم نيمګړے دے مجذوب او د فريد نه بغېر

بويه چې د "روڼ سحر" د چاپ کېدو نه وړاندې يا روستو خپل دې شعر ته رجوع وکړي او بس !

پهٔ درناوي

خاورې ايوب سهيل

۲۰۱۰/۲/۲۶

موبايل نمبر: ۰۳۰۲۵۷۶۱۲۹۳

www.pukhto.net

# دتاج الدين سحر خېروخېل شاعري

د تاج الدين صاحب د کتاب نوم "روڼ سحر" دے او تخلص ئې هم "سحر" دے ـ نن نه کافي موده وړاندې د "نوے کهول نوے غزل" په نوم د مروتو شاعرانو د شاعری یوه مجموعه مې لۀ نظره تېره شوې وه ـ هغه کتاب کښې د "سالو" په عنوان نظم زما ډېر خوښ شوے وۀ ـ هسې خو سحر صاحب قطعه بند نظمونه ، ازاد نظمونه او غزلې په خپل کتاب کښې شامل کړي دي خو ماته پخپله د سحر صاحب ځینو ازادو نظمونو او غزلو خوند راکړے دے ـ د سحر صاحب شاعري زما په دې هم خوښه ده چې خېروخېل غوندې کلي کښې د سحر صاحب لیك د انګرېزي ژبې د "ډان " معلومېږي ـ خېروخېل د مروتو پخته ځمکې علاقه کښې پروت دے خو دخېروخېل پکه کلے په دوه وجوهاتو مشهور وۀ ـ یو خو دلته د باهر قلعه ده او بل دلته د ډېرې وړاندې زمانې نه د ځښلو د اوبو اسانتیا وه ـ دلته کښې انګرېزانو د ځښلو د

www.pukhto.net

اوبو بندوبست د يو ټيوب ويل پذريعه کړے وۀ ـ چې ورسره دوه درې نور کلي به هم ترې مستفيد کېدل ـ خېروخېل پکه زمونږ قومي تربوران هم دي او د تعليم د مخې پسمانده پاتې شوي دي ـ وجه ئې دا وه چې هائي سکول وړاندې پۀ لکي مروت کښې وۀ او بيا چې کله کالج جوړېدو نو هغه پۀ لکي مروت کښې جوړ شو ـ د مروتو غوندې غريبو خلکو خپل اولادونه د لکي مروت سکول اوکالج ته نۀ شول لېږلے ـ پۀ دواړو کليو کښې ډېره فاصله وه ـ خېروخېل پکه د بېټنو علاقې سره پۀ سيمه پروت دے خو دې کلي ته ډاکو غدی نه کمه خطره وه ځکه چې يو خو پۀ دې کلي کښې باړر قلعه وه او بل دا چې د دې کلي خلك پخپله هم غېرتي او بهادر خلك دي ـ داسې ښکاري چې سحر صاحب د لفظونو پۀ استعمال قدرت لري ـ هغه د مغلو او پښتنو د وړانديني کشمکش استعاره څۀ پۀ مناسب ډول استعمال کړې ده ـ د يوغزل څوشعرونه ئې داشان دي:

زۀ که لېونے يم که پاګل يمه
دغه پوره نۀ ده چې دې خپل يمه
وګوره ګرېوان ته ماته نوم راکه

www.pukhto.net

ځُز دې د بدن يمه که کُل يمه
خدايه پښتني احساس ته خپر غواړم
نن که ښکېل په لومه د مغل يمه
ما وېل زۀ شاعر يمه سحر يمه
دې وېل زۀ مصرع يمه ، غزل يمه

بل يو غزل يې دا شان دے :

لکه ستورے د تيارو په بستر ناست يم
د خپل ځان په هنداره کښې کسکرناست يم
ما آداب د ګلشن زده لۀ تاروګيو
په ازغوکښې لکه ګل په هنرناست يم
د سپېدو په وخت په ويښو سترګو راشه
ستا درشل ته يم راغلے سحر ناست يم

دغه شان د سحر صاحب هر غزل کښې ښکلے خيال وي لکه وائي :

اے سحره! مه کوه پښتو نوره
وړاندې دجانان نوم دجانان واخله

بل ځاے وائي :

تر ګله رسېدل دي د ازغو په څوکو تلل
پښې ابله ستاکوڅه کښې ګرزوي مې لېونتوب
لمبه چې پېغلتوب شي په رخسار د زندګۍ
بې اوره بې لرګيه سوزوي مې لېونتوب

دا لاندينے غزل چې صرف په اوۀ بحرونو مشتمل دے

www.pukhto.net

ولې بيا هم سحر پکښې د خپل خيال اظهار ځۀ پۀ اسانه طريقه تر سره کړے دے :

دا ژړېدلے سحر　　دا غم ځپلے سحر

د رڼاګانو امين　　داسوزېدلے سحر

درنګ او نورپۀ جلوو　　ښۀ رنګېدلے سحر

دخپل ارمان پۀ اوښکو　　دے لمبېدلے سحر

پۀ ښو ستوري لري　　داخندېدلے سحر

لۀ بيل بيل رنګ دموسم　　دا لړزېدلے سحر

پۀ نظاره د فرېب　　يو غولېدلے سحر

تل ستا پۀ نوم قربان وي　　پۀ زړۀ ويشتلے سحر

سحر صاحب که ښې ښې غزلې ډېرې ليکلې دي خو د ټولو غزلو حواله پۀ دې تبصره کښې ضروري نۀ ده ـ د سحر صاحب ازاد نظمونه هم ډېر ښکلي دي لکه د ابابيل فرياد ، بدبختي ، بدلون ، نيمګړے ارمان ، ماضي وغېره

لنډه دا چې د سحر صاحب پۀ کتاب کښې ډېر ښکلي ښکلي ازاد نظمونه او ډېر ښکلي ښکلي غزليات دي ـ د تور لوګي رديف او د قافيې يوډېر بهترين غزل دے خو نورې خبرې زۀ لوستونکو ته پرېږدم چې هغه ئې خپله ولولي او مزه ترې واخلي ۰

پۀ مينه

عبدالرحيم مجذوب

صاحبداد مېدادخېل سراے نورنګ

ضلع لکي مروت

خېبر پښتونخوا

www.pukhto.net

د ښاغلي سحر وروړ مې

چې څومره د خولې خبره خوږه او شېرینه ده، له هغې زیاته ئې د زړهٔ خبره خوږه او شېرینه ده ـ او څومره چې سحر د ګل غوندې خاموش دے ، هغومره ئې لکه

د وړمو غوندې پهٔ شعر کښې شور، ولولې، انګازې او د مادي اومعنوي بدلون چغې او نارې دي ، ولې زهٔ پهٔ دې باور یم چې د دهٔ دغه شور او ولولې لکه د ځینو خلکو سطحي او شعاري نهٔ دي بلکه د غو ولولو او احساساتو سره سنجیدګي، صداقت او عاطفه ملګرې ده چې همدغه توکي د شعر د ابدیت اسباب دي اوشعرپوهان ورته پهٔ درانهٔ نظر ګوري ۰

د سحر د شعر لوي کمال داهم دے چې د توریو د حرمت خیال ئې ساتلے دے او شعر ئې پهٔ داسې هنري ژبه کښې وړاندې کړے دے چې که عام لوستونکے ترې دتغزل اوترنم نه خوند اخیستلے شي نو د اعلیٰ ذوق خاوندان ئې دشعردپس منظراوپېش منظرنه لذت اومعنیٰ اخیستلے شي اواحساس وربخښي ۰ ما یو وخت وېلي وو چې :

که پهٔ مروتوکښې غزل دے نو د درد غزل دے
نظم نیمګړے دے مجذوب او د فرید نه بغېر

ښاغلي سهیل صاحب زما خبره نوره هم اصلاح کړې او خوږه کړې ده ـ وائي چې "درد غزل د ښائیست تر (د) بام او کمال تر اخرې مقام ورسوهٔ او مجذوب نظم۰۰۰۰۰۰" اوبیا زیاتوي "او که ددې دواړو رنګ او ترنګ پهٔ یو وخت پهٔ اِك بوازی شخصیت کښې پهٔ نظر راځي نو هغه زما پهٔ خیال "سحر" دے "

کاش! چې ما د سهیل صاحب هومره جرات درلودے او د خپل نازنین دوست د شاعرئ پهٔ باره کښې مې دغسې راې وړاندے کولے شوے زهٔ خو وایم چې مجذوب مجذوب دے، درد ، درد دے او سحر، سحردے ـ درې واړه د یوې ونې ګلان دي او بېله بېله خوشبوئي لري ـ درې واړو ته اوږد عمر غواړم ۰

پهٔ ادبي تقدس

**سلیم قرار**

۲/ اپرېل /۲۰۱۰

www.pukhto.net

# سحر وپيژنۍ

د تمهيد او تشريفاتي خبرو نه پۀ صرفِ نظر سره پۀ لنډه توګه بايد ووايم چې سحر يو ښۀ دوست ، يو تکړه استاد او مهربان پلار دے ـ هغه پۀ خپل محدود آمدن کښې تر خپله وسه شاهانه وخت تېروي ـ عمر ئې که هر څومره دے ولې خدوخال ئې خوارۀ او چال چلند ئې چست دي او خوارۀ کړۀ وړۀ ئې سړے ځان ته راکاږي ۰

د شاعرۍ پۀ حواله د تاج الدين سحر يو څو عادتونه ډېر شاعرانه دي اول خو هغه ډېر حساس طبيعت لري ـ هره خبره ډېره سنجيده اخلي ـ چې کله ناکله ئې وچ پۀ وچه طبيعت ناساز هم شي بلکې زۀ خو به دا هم ووايم چې هغه حساس"سېنسيټيو" نۀ ، اوورسېنسيټيو" دے ـ هغه چې پۀ کومه خبره يا کار لګيا شي نو د چاپېرچل نه خبر نۀ وي ـ د هغۀ د زيات حساسيت ډېر مثالونه شته چې هغوے ته پۀ عامه زندګۍ کښې مخته ورغلي دي ـ نو "سېنسيټيويټي" يا د عامو خلکو نه زيات حساسيت د شاعرۍ دپاره ډېر ښۀ دے ـ دغسې سحر صېب اګر چې زيات تعليم يافته نۀ دے ولې هغه خبرې عالمانه او دانشورانه کوي ـ نو دا حساسيت د هغۀ تخليقي قوت له خلا او زور ورکوي او پوهه ئے دغه تخليقي صلاحيت ته ښکلا وربخښي او پۀ قابو کښې ئې ساتي ۰

سحر صېب د خپل مذهب او د خپلې خورې پښتونولۍ پۀ باره کښې ښۀ مثبته او واضحه نظريه لري ـ او لا تېر پۀ تېره ښۀ مينه ناک فطرت لري او د جمال او

www.pukhto.net

جلال سره سره یو خواخوږے زړۀ لري ـ نو تاسو وایئ چې شاعري چې د شخصیت ګونج دے ، به ئې څنګه وي؟ څکه خو ئې شاعري پۀ خپله علاقه کښې د خوارۀ شخصیت آئینه داره او مقبوله ده ۰

د سحر صېب غزل او نظم دواړه د جدیدې شاعرۍ پۀ فضا کښې ساه اخلي ـ ژبه ئې خوږه ده ، ابلاغ کافي لري د مینې محبت سره د ماحول پۀ ناسازو هم ژور نظر لري ، د تیارو نه نفرت کوي او د سحر رڼا غواړي ـ سحر د ژوند پۀ اکثرو وختونو کښې د تخلیقي کرب نه تېرېږي ـ هغه خبرې هم داسې کوي چې سړے ورته د تخلیق نوم ورکولے شي ـ څکه خو ئې دومره تخلیقي نظمونه مخته راغلي دي چې هم ئې د معاشرې هرې ناسازې ته پکښې ګوته نیولې ده او هم ئې خپل تخلیقي زور پکښې ازمائیلے دے ـ بس دا تخلیقي کرب خو دے چې د سحر غزل ئې د نظم نه او نظم ئې د غزل نه ښکلے کړے دے ـ مونږبه ورته دلاپرمختګ پۀ دعایو۰

پۀ ډېره مینه
اسلم خان تسنیم
پښتو ادبي پېوستون

۲۰۱۰/۹/۱۲

www.pukhto.net

# زما څو کرښې

د هغهٔ ښکلی خالق ډېر ډېر شکرگزار یم چې زما خالق دے او ماته ئې د بندگۍ اعزاز رابخښلے۔ زما زړهٔ ته ئې مینه او زما ذهن ته ئې د تخلیقي کرب صلاحیت ورکړو ۔ او بیا ئې د دې وړ وگرځولم چې خپل احساسات پهٔ کتابی شکل کښې د پښتو او ادب مینه والو ته وړاندې کړم ـ ځکه خو وایم چې :

ما هم پالی هم زما مینه پالی
گوره پهٔ دوه لوری مې خپل دے جانان

د شاعر خواهش وی چې "گل" ته د گل نه زیات ښائیسته ووائی خو چې پهٔ معاشره کښې چرته ظلم زیاتے وینې نو داسې ئې محسوس کړې لکه مظلوم چې هغه پخپله وي ـ دغه د خیال ښکلا او د احساس شدت د شاعر سرمایه ده او زهٔ محسوسوم چې شاید زهٔ به هم د دغې نړۍ وگړے یم ۰

د اللّٰه تعالیٰ د بنده گانو شکریه نهٔ ادا کول هم د اللّٰه تعالیٰ ناشکري ده ـ زهٔ د زړهٔ د تل نه د هغو ټولو ملگرو شکرگزار یم ، چا چې ما سره پهٔ ادبي هلو ځلو کښې پهٔ څهٔ نا څهٔ ډول مرسته کړې ده ، زما رهنما ئې ئې کړې ده یا ئې ماته ډاډگیرنه راکړې ده ۰

ادب که فقط د شاعرانو ادیبانو پهٔ لاس کښې پاتې شی نو زهٔ ورته د ادب وده نهٔ شم وئیلے ـ تر څو چې د عام اولس پام دے ته راونهٔ گرځول شی‌او زمونږ مرستیال جوړ نهٔ شي ـ ځکه زهٔ اول د هغو کسانو شکریه ادا کول غواړم چې نهٔ

www.pukhto.net

شاعران دي نۀ اديبان ـ خو بيا هم د اروابښاد ګل پاچاالفت پۀ نظر ډېر ادبي خلق دي ـ پۀ دې کسانو کښې اول زۀ د هغۀ چا شکرګزار يم د چا پۀ نوم چې ما دا کتاب منسوب کړے دے ـ که د کم عمر نه د هغۀ دعاګانې او ډاډګيرنه زما مله نۀ واے نو کېدے شي چې نن زۀ د دې ليکلو جوګه هم نۀ واے ـ اللّٰه دې مرحوم ته جنتونه ورکړي ـ داسې زما نور دوستان لکه شېخ لطيف اللّٰه،مصطفیٰ (پوليس افسر) ، نثار غزني خېل ، پيرصاحب عبدالحميدشاه ملازے ، د سينډهاك پبلك سکول لکی مروت پرنسپل ضياالدين او داسې نور ډېر خواږۀ دوستان چې د منلنې او کور وداني ويلو حق راباندې لري ـ دا رنګه ځينې کسان چې دلته ئې نومونه ليکل مناسب نۀ ګڼم خو زما د زړۀ پۀ پاڼو جوت بربښي ـ د پخې خوَره خېل ادبي ټولنې ملګري چې پۀ هغو کښې محمدخان خوَره خېل ، نعمت اللّٰه ، ثمرګل امان ، عبدالحميد خماري ، عارف اللّٰه عارف ، نصيرخان نصير ، قدرت اللّٰه او نور د شکرئې سره سره د مبارکۍ مستحق ګڼم چې دا د دوے د هلو ځلو برکت دے ـ کورئې ودان ۰

پاتې شوه زما د شاعرۍ خبره ، نو دا خو د ګران ايوب سهيل ، ډېر قابل احترام سليم قرار صاحب او د پښتونخواقابل رشك شاعر عبدالرحيم مجذوب صاحب اعلیٰ ظرفی ده چې ما غوندې کس ته ، چې لا مې ځان ته پۀ شاعر وئيلو پۀ خولۀ کښې لاړې وچې شی ، دومره پۀ درنه سترګه ګوری ۰

محترم رحمت اللّٰه درد ، عبدالرحيم مجذوب او

www.pukhto.net

قمراهیګور سیوري دي او زمونږ د لارې مشالونه ـ د دې حوالو نه روستو به زما په زړهٔ کښې دا خیال د خواهش په شکل کښې راولاړیږي او د دعا په شکل به مې په شونډو خوریږي چې اللّه دې هغه ورځ زر تر زره راولی چې د دغو درنو ادبي ستو په پیروکارئ کښې راجوَت شم ـ ولې بیا هم زهٔ د ګران ایوب سهیل صاحب ډیر ډیر شکرګزار یم چې هغه ما سره دومره مینه کوي او زما په باره کښې دومره ښکلے خیال لري (!) ۰

زهٔ د ادبي پیوستون سراے نورنګ یو مستقل غړے یم ـ چې د شاعر ادیب، نقاد او هر دلعزیز شخصیت سلیم قرار په سرپرستئ کښې تر خپله وسه د سیمې د شاعرانو ادیبانو ادبي تنده خړوبوي ـ ولې د بدقسمتئ یا د ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ لهٔ کبله تر اوسه پورے پیوستون ته د خپلو خدماتو هیڅ صله نهٔ ده ورکړل شوې ۰

هر سړے په خپل وَس ملامت دے ـ زما دا وَس وو چې اول ځل دې زما دا کتاب **"روڼ سحر"** د پښتو ادبي پیوستون د پلیټ فارم نه شایع شي ـ ګو چې دا بازي رانه د پښتو ادبي پیوستون خوږژبی شاعر شاه حسېن ظهیر وګټله ـ ولې هغه هم زما ادبي ورور او دپیوستون د کاروان لاروے دے ـ زهٔ ورته د کتاب په چاپ کولو مبارکي وایم ۰

زما د ادبي تندې ماتولو دوېمه ټولنه ، چې هغه هم د پیوستون د ملګرو په ډاډ د رحمت اللّه درد په

سرپرستئ او د نادرخان علیل پهٔ نظامت کښې د "رڼا ادبي ټولنه" پهٔ نامهٔ ادبي خدمات تر سره کوی، ده ۰

زهٔ د ټولو ملګرو د ډاډګیرنې شکریه ادا کوم چې وخت پهٔ وخت ئې زما حوصله زیاته کړې ده ۰

ماته ښهٔ داسې یادېږي چې ما د اتم جماعت نه ښهٔ مات ګوډ لیکل کول خو نهٔ د نظم یا د غزل پهٔ هئیت پوهېدم ـ نهٔ پهٔ رموزو او قاعدو ـ نهٔ مې ادبي ټولنې پېژندلې ـ خو چې لیکلے کاغذ به مې پهٔ جېب کښې د زوړوالي پهٔ سبب تګړی شو نو ګوزار به مې کړو ـ پهٔ ۱۹۹۸ ء کښې مو پهٔ کلي کښې ټولنه جوړه کړه او چې د لیکلو جمع کول مې شروع کړل نو د نصیب خبره ده ، دوه مجموعې رانه ورکې شوې او چې ښهٔ راپاتې شول د ورکېدو لهٔ وېرې مې ئې شایع کولو ته زړهٔ ټینګ کړو ـ هر ښهٔ چې دي ستاسو پهٔ وړاندې دي ـ الله دې وکړي چې زما دغه شاعرانه جذبه د لوستونکو پهٔ وړاندې سپېڅلې ثابته شي او که ښهٔ د رڼاځرك پکښې وي، داستفادې وَړوګرځي ۰

پهٔ اخر کښې زهٔ د اسلم خان خېروخېل د منني هم پوروړے یم چې د کتاب پهٔ چاپ کولو کښې ئې راته اسانتیا پېدا کړه ـ او لهٔ دې سره مو پهٔ خداے سپارم ۰

پهٔ مینه

تاج الدین سحر

خېروخېل پکّه

لکیمروت

www.pukhto.net

# یادښت

پښتو ادبي پېوستون یوه غېر سیاسي ادبي ټولنه ده چې په لنډه موده کښې ئې خپل ادبي رسالت تر ډېره حده په ښه توګه سر ته رسولے دے او په سیمه کښې ئې خپل اثر او اغېز څرګند کړے دے ـ نو ځکه دپښتو ادبي پېوستون دا ویاړ په ځاے دے چې د ساهو او سپېڅلي ادب خپراوے خپل مسئولیت اوادبي دنده ګڼي ـ او په عملي ډول ئې په سیمه کښې د ازمېښت په مېدان کښې ځغل کړے دے ـ ښاغلے تاج الدین سحر هم د پښتو ادبي پېوستون یو حساس ، روڼاندے(روښانفکره) او بېدارمغزه شاعر ادیب دے ، د پېوستون د ملګرو سره ئې په هر لحاظ ځغل کړے دے او د پېوستون د ادبي غوښتنو پالنه او ساتنه ئې په ښهٔ زړهٔ سره کړې ده ـ پېوستون د دوے په ادبي هلوځلو ، خدمتونو او د دوے په شعري شهکار(روڼ سحر) باندې ویاړي او د لا زیات پرمختګ او د فکر او خیال د لوړوالي دعا ورته غواړي ـ پېوستون د نوښتګر شاعر عبدالرحیم مجذوب او ښاغلی ایوب سهیل هم مننه کوي چې د سحر (روڼ سحر) ئې قدرولے دے ـ هیله لرو چې د ادب مینه وال به تاج الدین سحر ونازوي ۰

په ادب

پښتو ادبي پېوستون سراے نورنګ

www.pukhto.net

# اللّٰهُ الصّمد

څوك د خاورو نه پېدا کړي، څوك په خاورو کښې خوندي کړي
دا خو پاك غني سبحان دے چې بې نيازه بادشاهي کړي

چې پخپله ګل پېدا کړي، چې پخپله بهار جوړ کړي
خوشبوئي اوښکلا ورکړي، نوے رنګ دګلزار جوړ کړي
نغمه ئيز بادِصبا کړي، د بلبلو چغار جوړ کړي
بيا پخپله خزان خور کړي، په سرو ګلو ناتار جوړ کړي
د بورا بې وسه سترګې ننداره د دې خدائي کړي
دا خو پاك غني سبحان دے چې بې نيازه بادشاهي کړي

د دنيا ښکلي رنګونه ئې انسان لره پېدا کړل
دغه زيږ او سرۀ ګلونه ئې انسان لره پېدا کړل
دا حسين زېبا مخونه ئې انسان لره پېدا کړل
د شبنم نزاکتونه ئې انسان لره پېدا کړل
خو په چا تيارې خورې کړي ورنه ورکه بينائي کړي
دا خو پاك غني سبحان دے چې بې نيازه بادشاهي کړي

تۀ لقمان ئې که سعدي ئې دا د عقل برکت دے
تۀ اقبال که شېرازي ئې دا د عقل برکت دے
افلاطون ئې که شامي ئې دا د عقل برکت دے
که لايق د بندګي ئې دا د عقل برکت دے

www.pukhto.net

ستا پشانې انسانان وي خو پېدا ئې ليوني کړي
دا خو پاك غني سبحان دے چې بې نيازه بادشاهي کړي

که ظالم ته راحت ورکړي دغه هم يو امتحان دے
که عاجز ته ذلت ورکړي دغه هم يو امتحان دے
چې کم ظرف ته عزت ورکړي دغه هم يو امتحان دے
خپل بنده ته عظمت ورکړي دغه هم يو امتحان دے
ډير لۀ عقل بالاتره ازمايښت د بندګي کړي
دا خو پاك غني سبحان دے چې بې نيازه بادشاهي کړي

د ليلیٰ د دلبرۍ نه کړي د مينې دنيا جوړه
د پتنګ د سادګۍ نه کړي د مينې دنيا جوړه
ابراهيم؊ د بندګۍ نه کړي د مينې دنيا جوړه
د صديق رض د ملګرۍ نه کړي د مينې دنيا جوړه
ننداره د کائنات کړي ، څوك چې څومره قرباني کړي
دا خو پاك غني سبحان دے چې بې نيازه بادشاهي کړي

کله مورد زوے پۀ غم باندې لۀ غم څيرې ګرېوان کړي
کله مور پلار ورنه واخلي او وړوکي يتيمان کړي
ديعقوب؊ سترګې ړندې کړي يوسف؊ جېل کښې بنديوان کړي
د ايوب بدن چنجي کړي د فرعون پرده پۀ ځان کړي

اے سحره لوے بادشاه دے ټول کارونه د لوئي کړي
داخوپاك غني سبحان دے چې بې نيازه بادشاهي کړي

www.pukhto.net

# دعا

ځاځکے ځاځکے رحم وکړه
داصحرا ماحول اوبۀ کړه
خور بهار پۀ لمرخاتۀ کړه
ګوندې سيمې مو د زړۀ شي بيا زرغونې
ګوندې ګل شي دا خزان وهلې ونې

دا منو چې ګناهګار يو
نۀ د ورور يو نۀ د پلار يو
ښۀ بې لارې، ښۀ بېکار يو
خو پۀ چم کښې يو ميشتۀ د نازولي
چې عزت ئې پۀ تا ګران دے لۀ هر ښکلي

پۀ دروغو چې نارې کړي
لېوان ماتې ئې رمې کړي
ټول عالم ئې ننداړې کړي

www.pukhto.net

خو کشتۍ چې په طوفان کښې شي ایساره
د بې کسو هلته تۀ ئې مددګاره

څوک په دین سوداګري کړو
څوک کافر ته سرټیټي کړو
څوک جهاد خیانتي کړو
د غرض اوبۀ مو زنې ته راخېژي
لۀ کردار مو د شېطان سترګې شرمېږي

څۀ ایمان ته خطره یو
څۀ خپل ځان ته خطره یو
څۀ جهان ته خطره یو
پۀ اُمه کښې نن د تورو کړنګهار دے
پۀ هر لوري د بارودو ګرد غبار دے
مونږ رسۍ ده ټوټې کړې
هر یو ځان ته ده نیولې
خپله لار ګڼو پیاوړې
د نبيﷺ اُمت تیارو نه رابهر کړه
چېرې لمر ته اراده وکړه " سحر " کړه

❊

زۀ پۀ قلم د فکر ستا د مخ کتاب ليکمه
شونډې دې ګل، زلفې سنبل، وروځې محراب ليکمه

چې د بې دردو پۀ دنيا کښې کار د مينې کوم
پۀ خپل نصيب کښې زۀ پۀ خپل قلم عذاب ليکمه

د ژوند د ناوې خدوخال مې احاطه نۀ کړلو
د خپل احساس هرې پوښتنې ته ځواب ليکمه

رقيبه تۀ هم د يار نوم ليکې او زۀ ئې ليکم
تۀ ئې پۀ مشکو ليکې ، زۀ ئې پۀ خوناب ليکمه

که د ستم غشي وي هم ئې پۀ دا لور راوله
هره ګناه به دې پۀ مد کښې د ثواب ليکمه

www.pukhto.net

هغه کسان زما د لاسو نه قلم اخلي
ډېر پهٔ تعظیم چې کومو خلکو ته جناب لیکمه

تهٔ به پهٔ جاره ظلم کړې چې زوروړ ئې اشنا!
زهٔ خو قصه د ظلم ډېره پهٔ حجاب لیکمه

ګوره تضاد مې د حالاتو او د زړهٔ د دنیا
چې تاج محل پهٔ هغه نوم خانه خراب لیکمه

بل حسن چرته دے تشبیهـ ورله لهٔ کومه راوړم
ستا حوالې دي که آفتاب او که مهتاب لیکمه

" سحر " د مینې د ادب حدونه وپېژندل
د چا د شونډو قصه ځکه پهٔ ګلاب لیکمه

www.pukhto.net

❊

کومې زلفې چې تا ماته زولنې کړې
ما هغه زلفې پهٔ زړهٔ کښې مېلمنې کړې

ښاپېرۍ زما د عقل ورته خاندي
چې پهٔ ګل شونډو شېرينې بهانې کړې

ما د مينې پهٔ برزخ کښې لکه مړے
ستا قيامت حسن ته تېرې زمانې کړې

ښکارې خوب کښې مې ستا نوم پهٔ خولهٔ راغلے
فرښتو ورځنې جوړې افسانې کړې

لکه خال چې د رنجو لهٔ رخسار ړنګ شي
داسې ړنګې تا د مينې نشانې کړې

ستا پهٔ پړک ديدن مې فکر نوراني شو
چې " سحر " شوم ما سپېڅلې ترانې کړې

www.pukhto.net

# كوتاهي

پۀ خپل وطن يم ، پۀ خپل کور کښې يم بيمار نۀ يمه
لکه پۀ شان د کونډې رنډې پۀ چا بار نۀ يمه
خپل مې روزګار دے خپله ګټه خپل تاوان کومه
د چا دښمن هم نۀ يم زۀ که د چا ځان نۀ يمه

خپله خواري کومه ځان ته بهارونه کړم
د مستقبل پۀ خپلو سترګو کښې خوبونه کړم
خپله دنيا لرم، ورکوټے تاج محل لرمه
پۀ خپلو لارو زۀ پۀ دوه اړخه ګلونه کړم

زۀ غريب هم نۀ يمه پت لرم، شهرت لرمه
پۀ سپين جاميو کښې کښېنم پاځم، عزت لرمه
هر آسايش لکه جنت زما پۀ کور کښې شته دے
مينه ناك هم يم زړۀ راکښونکے محبت لرمه

www.pukhto.net

خو دا ماحول زما جنت پهٔ تندرونو ولي
زما ګلشن لکه خزان پهٔ نفرتونو ولي
زما برېښنا زما د غم ورېځو کښې پټه شوله
د ماحول جهل مې رڼا پهٔ تورتمونو ولي

ښنګه ئے بچ کړم زهٔ ګلونو سره څهٔ وکړمه
خپل تاج محل خپلو خوبونو سره څهٔ وکړمه
زهٔ د جنت پشانې کور کښې هم خوشحاله نهٔ يم
زهٔ د ماحول دې تندرونو سره څهٔ وکړمه

دغه تراخهٔ مو که خوارهٔ نهٔ شول نو څهٔ به وشي
دغه اورونه مو که مړهٔ نهٔ شول نو څهٔ به وشي
**ما که د ځان دپاره هر څهٔ هرڅهٔ وکړل بيا هم**
**که د ماحول دپاره ونهٔ شول نو څهٔ به وشي؟؟؟**

***

## څلوريزه

ستا پهٔ سلوك باندې که غلے يم بزدل نهٔ يمه
ستا د ذلت پهٔ انتها مې ابتدا د پښتو
تهٔ به تر کومه دا تيارې کړې د مکر پهٔ زور
ښاپېرك سترګيه راروانه ده رڼا د پښتو

www.pukhto.net

❊

زۀ که لیونے یم که پاګل یمه
دغه پوره نۀ ده چې دې خپل یمه

چا چې د دنیا سترګو کښې ځاے کړلې
زۀ هغه سړے یمه که بل یمه

وګوره ګرېوان ته ماته نوم راکه
جُز دې د بدن یمه که کُل یمه

زۀ که د خزان مخې ته ودرېدم
زۀ خو نن پۀ سترګو کښې د ګل یمه

www.pukhto.net

بیا مې د هغهٔ زړګي منلې ده
زهٔ ئې چې پهٔ غم لړلے تل یمه

خدایه پښتني احساس ته خبر غواړم
نن که ښکېل پهٔ لومه د مغل یمه

تاته فطرت ظلم ماته زغم ښېئي
تهٔ که امریکه ئې زهٔ کابل یمه

ما وېل زهٔ شاعر یمه "سحر" یمه
دې وېل زهٔ مصرعه یمه، غزل یمه

## څلوریزه

دا دړکه کړي چې مدام پهٔ خپله لاره اوسم
چې مې قدغن پهٔ رهنما وی لار به څنګه وینم

دهجر شپه کښې مې پټې لهٔ سترګو نهٔ پرانیزی
که سباوون شهٔ د سحر آثار به څنګه وینم

www.pukhto.net

# بابا

◇◇◇◇◇◇◇

د ژوندون
پۀ دغه تکنه غرمه کښې
لکه چرته لاروے بيل پۀ صحرا کښې
چې د غم د لمر شغلې ترېنه چاپېر وي
پښې ئې اور وي
کُنډکې ئې د وجود پۀ ايشېدو وي
دمه نۀ وي، سيورے نۀ وي، اوبۀ نۀ وي
او پۀ دغسې لمبه لمبه ماحول کښې
يوه توره ګوره وريځه
لکه رحم د دې کس پۀ سر خوره شي
ټولې ستونزې، ټول غمونه
واړه ستړې، تکليفونه
پۀ لحظه کښې پۀ هوا شي
او ماحول ټول جنتي شي

❊❊❊

www.pukhto.net

٭

چاته سور انګار چاته ملهم شولې
چا دپاره ظلم چاته زغم شولې

چا دپاره من وې کمېدلې نه
چاته لۀ کُنجکې نه هم کم شولې

يو ساعت سېلاب وې ناقراره وې
بله ګړۍ واوره شولې تم شولې

کله د ساقي پۀ جام کښې پټ شولې
کله بې پروا د جامِ جم شولې

Pukhto.Net
www.pukhto.net

يو خوا سنګ تراش شولې آذر شولې
بل خوا جوړوونکے د حرم شولې

ځکه شوې قلم چې خپله تيغ شولې
هله مينه ناك شوې چې قلم شولې

څۀ لکه د اوښکې عجيبه شولې
غم شولې خوشي شولې شبنم شولې

زۀ که څو رڼا شومه "سحر" شومه
تۀ راته تيارۀ شولې تورتم شولې

***

### څلوريزه

خداے خبرځان دوکه کوی که چل غريب ته دے بيا
شول هوښياران پۀ څادر پټ د ساده ګيو پۀ کټ
تر څو چې ناوې د ناموس درنه پۀ څنګ اوسيږي
څنګه به عېش وکړي اشنا د ګلماخيو پۀ کټ

www.pukhto.net

# اِنِّی کُنتُ مِنَ الظّٰلِمِین

مونږ پۀ بلا لويه ښاريه کښې بلا خلك اوسو
مونږ بلا خولې لرو او خولو کښې بلا ژبې لرو
دلته غټ سري، سترګوراو غوږور اوسېږو
پير، ملا، خان، سياستدان او دانشور اوسېږو
يومصوردے بل شاعر بل سائنسدان دے دلته
يو سماجي کارکن دے بل منصف لقمان دے دلته
هر يو لګيادے دسامراج خلاف پۀ جنګ اخته دے
هريودخوارېۀ زېرمه بوخت دے لوے پۀ ننګ اخته دے
ورور مصور مې د زېلي ژوند تصوير جوړوي
ملا د جبر پۀ ضد بيا نوے تقرير جوړوي
سائنسدان ورور راته بلا قسم بمونه جوړ کړۀ
سياستدان راته هوا کښې محلونه جوړ کړۀ
پيرصېب لګيادے پۀ تعويزکړي مخنيوے د ظلم

منصف دصلحې پهٔ تجویزکړي مخنیوے د ظلم
شاعردخیال پهٔ نیلي سوردے امریکا کښې ګرزي
تلاش د ظلم کړي کلهمه بوسنیا کښې ګرزي
زهٔ د هر چا د دې زحمت ډېره مننه کوم
د قدر وړ ملګرو! زهٔ یوه پوښتنه کوم
چې د ظالم تعیّن نهٔ وي جنګ به څنګه ګټو
که داسې ونهٔ کړو د سېلمې، ننګ به څنګه ګټو
مونږ به تر کومه څلور نهٔ وینو یوه به ګورو
چې داغ مو پټ کړي ګردآلوده آئینه به ګورو
راځئ چې خپل ګرېوان کښې وګورومجرم څوک دے
راځئ چې ځان نه تپوس وکړو چې ظالم څوک دے

❊❊❊

www.pukhto.net

*

بار پهٔ سر اخلم خو یارانو ته بار نهٔ کومه
زهٔ د پتنګ پشان سېزلو ته وار نهٔ کومه

چې زړهٔ لرم،احساس لرم،دښکلوچم کښې اوسم
څنګه کېدے شي چې د چا انتظار نهٔ کومه

چې مې د سترګو پهٔ حسرت باندې ځان نهٔ پوهوي
زهٔ داسې خلکو ته د مینې اظهار نهٔ کومه

راته عبث ئې هر موسم کړلو دښمن د زړګي
نوره دا خوشې بهروسه پهٔ بهار نهٔ کومه

Pukhto.Net

www.pukhto.net

زړۀ ته راتېر دي د خپل قام واړه زلمي او جونه
خو پۀ ريا ريا هر ښکلي ته جار نۀ کومه

اول دعاکړم چې مې روغ کړي خداے غوړونه د چم
کاڼۀ ماحول کښې پۀ ټپه يکه زار نۀ کومه

هڅه کوم چې د قلم نه مې رڼا خوره شي
دکاندار نۀ يم د غزل کاروبار نۀ کومه

ماد زغم چل لۀ خپل ماحول اولۀ خپل دين زده کړے
زۀ ګوزار وړے شمه لاليه ګوزار نۀ کومه

تيارې مې نۀ لګي " سحر" يمه رڼا غواړمه
خو لکه پرخه پۀ شغلو اعتبار نۀ کومه

❊❊❊

www.pukhto.net

# بالاکوټ

مور خو تل الله ته ژاړي
خېر د خپلو بچو غواړي
ورته خاندي وهي تاړي

مور خو امن وي سکون دے
دا خو ښکلے سباون دے
چې دا ولې زړهٔ چاودون دے

دغه چا ده قهرولې
دغه چا ده لړزولې
چې وجود ئې پهٔ رپا دے

چې ئې خپل جنت تباه کړو
چې ئې خپل ګلشن تالا کړو
شکل جوړ ئې د بلا کړو

خپل بچي ورته ژړېږي
ددې اوښکې نهٔ وچېږي
قهر ئې يو پهٔ دوه زياتېږي
دغه چا ناراضه کړې

Pukhto.Net

جوړ بچي ئې نافرمان دي
نۀ د دې دي نۀ د ځان دي
ځکه ځان پورې حېران دي
د مور لفظ خو دعا ده
دا خو مينه ده وفا ده
چې نن ولې بد دعا ده
دغه چا ازارولې
بد دعا چې دعا کېږي
دغه مور به پخلا کېږي
د دې حق به ادا کېږي
هسې نۀ چې زړۀ ئې اوچوي
هسې نۀ چې زړۀ ئې اوچوي
هسې نۀ چې زړۀ ئې اوچوي
چې زمونږ نه شي نتلې
دغه چا ده لړزولې
چې وجود ئې پۀ رپا دے
٭٭٭

www.pukhto.net

❊

لکه ستورے د تیارو پۀ بستر ناست یم
د خپل ځان پۀ هنداره کښې کسکر ناست یم

ستا د حسن عرش ته لار د ختو نشته
یو خواهش یم د امېد پۀ وزر ناست یم

ما آداب د ګلشن زده لۀ تاروګیو
پۀ ازغو کښې لکه ګل پۀ هنر ناست یم

پۀ دروغ خندا مې نۀ زده پۀ محفل کښې
یو ړنګ څلے د حیا یم بهر ناست یم

www.pukhto.net

د خپل زړۀ پۀ آئينه کښې راته ګوره
زۀ اوچت درته د مينې پۀ غر ناست يم

ننګ د ميو پۀ چا شي او پۀ چا نۀ شي
که پۀ وار وي نو د ليکې پۀ سر ناست يم

چيندخان پۀ غړپ اوبو کښې پۀ غوغا دي
لکه وهېل پۀ سمندر کښې ژور ناست يم

د سپېدو پۀ وخت پۀ ويښو سترګو راشه
ستا درشل ته به راغلے "سحر" ناست يم

❊❊❊

www.pukhto.net

# بې رُخي

نۀ مو ژړا کښې اثر
نۀ مو دعا قبلیږي
واکمن د دوے پۀ مرسته
خلك د دوے پۀ طرف
د تا خدائي هم ورته صبر کړے
انصاف به کله کېږي
امن به کله راځي
غریب به کله بې خطره لۀ خپل کوره وځي
هغه دے بیا ئې مړ کړو
**او بې ګناه ئې مړ کړو**

❋❋❋

www.pukhto.net

*

تل مے سترګو کښې غرېږي يو سړے
څومره ډېر راته يادېږي يو سړے

چې د مينې موسمونه رابدل شي
لکه پرخه راورېږي يو سړے
تل به لمانځم دا لمحې پۀ ترمو اوښکو
لۀ محفل چې رخصتېږي يو سړے
حقيقت رانه پۀ تورو خاورو پټ کړو
تصور کښې مې اوسېږي يو سړے
عمر نۀ، يوه لحظه ورله پکار وي
چې خپلېږي که ورکېږي يو سړے
د غمونو پۀ درياب باندې ورګډ يم
پۀ ساحل راته مسکېږي يو سړے

څۀ خبر وم چې "سحر" يم، چې زۀ راشم
لکه ستورے به پټېږي يو سړے

www.pukhto.net

# د ابابیل فریاد

اے د بانګونو چړګه
ستا پۀ بدن باندې دي سپينې جامې
رنګه شمله
زۀ دا منم چې ستا قدم دے پۀ بلې د جانان
زۀ د شتۀ منو دسترخوان منمه
ستا قرباني او ستا احسان منمه
خو اے د بانګونو چړګه
زړۀ کښې ګيله من يم لۀ تا
چې تۀ غندنه د دې تورو جامو ولې کوې
که وخت دې بيامونډ
چرته وګوره پرواز ته زما
چېرې غوږ ونيسه
د مينې ډك اواز ته زما
**د خپل حصار نه شه بهر زما قصه وګوره**
**پېژندګلو له مې تاريخ د ابرهه وګوره**

www.pukhto.net

❊

بد مې ځان سره کول زۀ ملامت يم
ما د هيڅا نۀ منل زۀ ملامت يم

تا نقاب لۀ مخه لرې کړو صنمه
ما پۀ بل لوري کتل زۀ ملامت يم
تا اختيار د کروندې د چمن راکړو
ما ګلونه نۀ کرل زۀ ملامت يم
هر يو ګل د يار خندا ته پۀ خندا وۀ
ما ګلونو ته خندل زۀ ملامت يم
ستا د زلفو د ګور سيوري لاندې پروت وم
ما وختونه نۀ شمېرل زۀ ملامت يم
تا د غېږې ګلستان زما پۀ نوم کړو
ما به نن سبا کول زۀ ملامت يم

ما " سحر" چې ستا د حسن سمندر کښې
هم ګوهر نۀ موندول زۀ ملامت يم

--------- ---- -----------

www.pukhto.net

## سالو

.........

عجیبه غونډې سالو دې نهٔ پوهېږم
دې رنګونه بدلوي زهٔ حېرانېږم

دکاندار سره چې پروت وي نو دولت وي
چې د خوبندو پهٔ سرپروت وي نوعزت وي

چې ګلونه پرې قطار شي نو ښکلا شي
چې پلو شي نو مریض لره شفا شي

چې پرده شي نو الله پرې خوشحالېږي
چې ادا شي نو شمال سره رپېږي

چې د سترګو تر منځ راشي نو حجاب شي
چې د ناوې پهٔ جبین پرېوزي نقاب شي

www.pukhto.net

که د کونډو پهٔ سر پرېوت نو امان دے
که تار تار شو نو تهمت دے او تاوان دے

چې تحفه شي نو بنا د خپلولۍ ده
چې راښکهٔ شي نو شروع د دښمنۍ ده

چې پهٔ قبر باندې پروت وي نو څادر دے
چې لېلا ئې زنګوي عاشق ابتر دے

دا پناه ده چې پهٔ ښو کښې د چا پرېوزي
چې داغدار شي ډېر عالم پهٔ رنځ کښې کېوزي

دا دوه نیم ګزه توکړے تاج الدینه
څهٔ بلا ده چې لیلا پرې کوي مینه

www.pukhto.net

❊

ستا د حسن نه جوړ هر يو منظر ښکل کړم
که د خپلو سترګو ښکلے نظر ښکل کړم

د وفا د اننګو پهٔ تماشه شم
که دا څاڅکے څاڅکے وينې ځيګر ښکل کړم
ستا د سرو شونډو پهٔ جام باندې ځان موړ کړم
مېکده کښې دې که هر يو بشر ښکل کړم
چرته کُنج کښې ستا د ياد سره ميشتهٔ شم
که جنون شمه اور ښکل کړم شرر ښکل کړم
ما د حسن سمندر ته ورګوزار کړه
پکښې پټ چې ستا د مينې ګوهر ښکل کړم
د فايدې او د مطلب پهٔ دې دنيا کښې
ماته راکړه چې تاوان او ضرر ښکل کړم

زهٔ "سحر " به دا احسان هم پوره نهٔ کړم
ستا کوڅه کښې چې د خټو کمر ښکل کړم

www.pukhto.net

*

درد دې ماله راکړه تۀ درمان واخله

زړۀ مې لۀ تا ځار شه هم مې ځان واخله

ما که پۀ محفل کښې درکتلي دي

راغلم پۀ جرګه رانه تاوان واخله

یا مې د غر غر امېد خاطر وکړه

یا زما د سر نه خپل اسمان واخله

کانړي زړۀ دې کله زۀ محسوس نۀ کړم

چېرې پۀ خپل فکر کښې خپل ځان واخله

www.pukhto.net

تهٔ لکه د هاړ سیلۍ چې تېره شوې
مانه د ساوڼ غوندې باران واخله

تا که پهٔ وفا رقیب ودان کړلو
مانه پهٔ غربت کښې امتحان واخله

زهٔ خو دې پهٔ نیم نظر نیمګور کړمه
ماته یقین راکړه خپل ګمان واخله

اے" سحره" مه کوه پښتو نوره
وړاندې د جانان نوم د جانان واخله

www.pukhto.net

# مجبوري

زما وعده ده زۀ به خپلې شونډې وګنډمه
بيا دې نوم نۀ اخلمه بيا کوڅې ته نۀ درځمه

زۀ به محفل کښې ناآشنا شم تا به نۀ پېژنم
زۀ به کوشش کړم زۀ به تېر وختونه نۀ يادوم
خپلوغوږونوته به خواست کړم چې خندانۀ اوري
وفا به نۀ پېژنم ګل! جفا به نۀ پېژنم
**زما وعده ده زۀ به خپلې شونډې وګنډمه**

تا سره هم د تا عزت سره هم مينه کوم
غرضي يم خپل محبت سره هم مينه کوم
مينه ايمان ګڼم د حسن سوداګر نۀ يمه
لۀ تا قربان شم ستا د پت سره هم مينه کوم
**زما وعده ده زۀ به خپلې شونډې وګنډمه**

www.pukhto.net

خو مجبوري ده زۀ سودا لرم وسواس لرمه
پۀ خپل وجودکښې دجاسوس غوندې احساس لرمه
د تا د پښو ښکالو چې څرنګه محسوس کړي دغه
دا چُغلخور به زړۀ خبر کړي زۀ قیاس لرمه
**زما وعده ده زۀ به خپلې شونډې وګنډمه**

نادان زړګے به پۀ درزا شي د چا کله مني
پۀ ټول وجود کښې به غوغا شي دچاکله مني
اعصاب بې وسه ، تحمل باندې به اور ولګي
راز به پۀ کُل بدن افشا شي د چا کله مني
**زما وعده ده زۀ به خپلې شونډې وګنډمه**

لۀ دې ناڅاپه حادثې به شي خبرې اوښکې
شي بې پوښتنې راروانې به خودسرې اوښکې
دغه قصه خو به تر سترګو خامخا رارسي
چې کله ودرېږي بڼو کښې مې ابترې اوښکې
**زما وعده ده زۀ به خپلې شونډې وګنډمه**

www.pukhto.net

دا خپله منځ کښې رقیبان کسي به ویر جوړوي
هریوبه ځانله ستا د ښکلي مخ تصویر جوړوي
لکه د جم به هره اوښکه کښې لیدۀ شي ګله
لکه د نیل به یوه مستي دغه بهیر جوړوي
**زما وعده ده زۀ به خپلې شونډې وګنډمه**

دا تصویرونه د دنیا نه پټولے نۀ شم
بې عقله زړۀ لۀ درزېدا منع کولے نۀ شم
لمبه لمبه احساس به اوښکو کښې جوت لیدۀ شي
اور به اوبو کښې وي پېدا دا مړ کولے نۀ شم
**زما وعده ده زۀ به خپلې شونډې وګنډمه**

زما ناجاړه محبت یوه مجبوري وګڼه
مینه کښې لړغوندې تهمت یوه مجبوري وګڼه
رسوا دې نۀ غواړم خو مینه پرېښودلے نۀ شم
"سحر" که ډېر یم ملامت یوه مجبوري وګڼه
**زما وعده ده زۀ به خپلې شونډې وګنډمه**
**بیا دې نوم نۀ اخلمه بیا کوڅې ته نۀ درځمه**

www.pukhto.net

❊

د ښکليو په کوڅه کښې شرموي مې لېونتوب
تاريخ کښې لکه ستورے ځلوي مې لېونتوب

د عشق په بيابان کښې د منزل په لويه لار
ديوال يمه د عقل نړوي مے لېونتوب

ځان ژغورم په هنر د رواجونو له بلا
په ځان کښې چرته ورك يم لټوي مې لېونتوب

تر ګله رسېدل دي د ازغو په څوکو تلل
پښې ابله ستا کوڅه کښې ګرزوي مې لېونتوب

www.pukhto.net

لمبه چې پېغلتوب شي په رخسار د زندګۍ
بې اوره بې لرګيه سوزوي مې لېونتوب

په غم کښې په خنداشم په خوشۍ کښې په ژړا
ترتيب د ژوندانۀ نه اړوي مې لېونتوب

چې هوش پکښې اودۀ شي اواحساس منترزده
لۀ دې سحردرو نه خبروي مې لېونتوب

"سحر" به څنګه بچ شم لۀ پېرې د محبت
د زلفو ماښامې کښې لوبوي مې لېونتوب

### څلوريزه

تاج محل ئې چې د حسن منت بار وۀ
هغه خلك د ميرو په غېږ کښې اوسى
پرخې ګوره د ازغو په غېږ کښې اوسي
نااميد د سباوون لۀ رڼا نۀ يم
هر سحر د تورو شپو په غېږ کښې اوسي

www.pukhto.net

# حبس

دروازې چا بندې کړې
دا ډیوې ولې مړې دي
تیارهٔ تیارهٔ دے ماحول
دا خاموشي ولې ده
دا پابندي ولې ده
پهٔ دې ماحول کښې دومره حبس پهٔ څهٔ؟
دا ساه تنګي ولې ده ؟
چرته ډیوه بله کړئ
چرته کړکۍ خلاصه کړئ
د پلوشو او د وږمو پهٔ لار کښې مهٔ ودرېږئ
پاڅئ پهٔ مینه ورور ته ورور ووایو

www.pukhto.net

کلمه د حق چې ښه په زورووايو
پورته کړو بيا د خوشحالو سندره
د محبت د پسرلو سندره
دا خاموشي ماته کړو
چې نغمه ګين شي ماحول
چې ګلورين شي ماحول
چې دغه حبس ، ساه تنګي ختمه شي
ګني نو بيا به ورورولي ختمه شي

❊❊❊

www.pukhto.net

٭

ژړوي مې بېرُخي د جانان ورو ورو
دوړوي مې د ژوند پاڼې خزان ورو ورو

رڼاګانې مې لۀ سترګو رخصت اخلي
تيارۀ کېږي مې د سترګو جهان ورو ورو
تۀ خو لاړلې صنم پۀ خپله لاره
زۀ بخري ټولوم د ارمان ورو ورو
د ستم به زۀ لۀ خلکو څۀ ګيله کړم
ماته راکړو خپلې مينې تاوان ورو ورو
تماشه د سوزېدو مې د زړۀ وکړه
پۀ انکار ئې اړوي رقيبان ورو ورو
ما خپل نوم پۀ يوه پاڼه موندۀ نۀ کړو
ډېر مې وکتل چمن کښې ګلان ورو ورو

د "سحر" ښکلا به يو پۀ دوه زياتېږي
چې ورېږي ستا د حسن باران ورو ورو

٭٭٭

www.pukhto.net

# ریشم توت

تهٔ هم ژوندے مخلوق ئې ساه لرې احساس به لرې
چې ژوند لرې زړګے به هم لرې وسواس به لرې
د تا تخلیق ته هم یوه پاکه اراده شوې وه
ستا خدوخال او د سنګار هم فېصله شوې وه
ستاپهٔ مستۍ کښې دمالیارمحنت*بلنګ لیدهٔ شي
ستاپهٔ ګور سیوري د یو سترې کس قلنګ لیدهٔ شي
ستا پهٔ پالنه پهٔ ژغورنه به خواري شوې وي
پهٔ سرو غرمو کښې به هم تاته ګودچاري شوې وي
تا به لمحه لمحه ځوانۍ ته انتظار کړے وي
تا به شېبه شېبه خواهش د نوبهار کړے وي
د تا معصوم ذهن به هم رنګ رنګ خوبونه لري
غوټۍ غوټۍ به دې څڼس ښکلي امېدونه لري

* ښکاره ـ جوَت ـ څرګند

www.pukhto.net

زۀ دا منم چې د ښکلا پۀ نیابت کښې اوسې
خو د خلقت د دې اشرافو پۀ جنت کښې اوسې
مونږ د تهذیب او تمدن ډېر دعوه ګیر خلك یو
پۀ ګلوبل ورلډکښې اوسومونږډېرعالمګیر خلك یو
مونږ لۀ وفا او لۀ ښکلا هم کاروبار جوړوو
مونږه غریب ختموو ټول سرمایه دار جوړوو
مونږقیمتي چینجي راغوښتي ستاورېښمین بدن ته
ډېر ضرورت وي ستا د وینې دې شېرین وطن ته

داسې اهم دے ستا وجود لکه د خوار وګړي
چې تر څو تۀ ئې دا چینجي به وي ورېښم به خړي

❊❊❊

www.pukhto.net

❊

( زما د ګران او قدرمن ملګري ايوب سهيل په ليکه )

ستړګو کښې شبنم او په کاتهٔ کښې اور
زړهٔ کښې محبت ، په سپينه خولهٔ کښې اور

تا چې د لمنې هوا ورکړله
خود به لمبه کېږي مې په زړهٔ کښې اور

غم دې شوګيرو کښې هغه کار وکړو
شي لکه موندهٔ چې په ساړهٔ کښې اور

دا د نغري د اور قصه نهٔ ده
وخت مې بلوي په ژوندانهٔ کښې اور

زهٔ د مينې يو پوتے رڼا يمه
بل لکه چې لرې وي په غرهٔ کښې اور

www.pukhto.net

تا مې چې پۀ قبر ړیوه بله کړه
ما وېل اوس به لګي مړیستانۀ کښې اور

زړه! تۀ چې مېلمه شولې د سرو شونډو
هلته ئې درکړے دے خواړسۀ کښې اور

غېږ د پښتنې که ړېره یخه ده
ړېر دے پۀ پښتو د پښتانۀ کښې اور

تا راته لۀ زلفو پېنګو جوړه کړه
خلك دې اوس بل کړي مېدانۀ کښې اور

تا چې ما "سحر" ته پۀ جار وخندل
اوس به ګرزوم پۀ ګرېوانۀ کښې اور

❊❊❊

www.pukhto.net

*

خبر نۀ يمه چې کاڼے که ګوهر يم
د خپل قدر ، خپل قيمت نه ناخبر يم

زۀ غلام يم، زۀ عاجز يم، زۀ بنده يم
غلامئ کښې زۀ بادشاه د بحروبر يم

کله خپلې بې وسئ ته پرنا وړے
کله فخر کښې ولاړ لکه د غر يم

زما زړۀ د نُور استوګنې له پيدا دے
ښومره ښکلے يې جوړ کړے پۀ هنر يم

www.pukhto.net

د حسین او وفادار جانان عاشق یم
ځکه زۀ لۀ نورو خلکو بختور یم

د منزل د فاصلو نه نابلد یم
اجنبي یم خو جوړ کړے ئې رهبر یم

پۀ پستئ کښې کله کندو ته ګوزار شم
کله پورته پۀ اسمان کښې لکه لمر یم

زۀ د یار د کوڅې سپې هم ښکلومه
پۀ هر حال کښې زۀ مشکور د خپل دلبر یم

زۀ "سحر " یم رڼا وېشم، رڼا غواړم
د فقیر غونډې ولاړ د تا پۀ در یم

www.pukhto.net

# د حوا لور

زۀ چې پېدا شوم دغه کور کښې يو ماتم غوندې وۀ
خلکو وئيل چې د فلانې کره جينۍ شوې ده
زۀ چې وړه وم تا پۀ غېږ کښې چرته وانۀ خيستم
خلك به وائي چې فلانے پۀ غېږ کښې لور لوبوي
هره تمغه به لګېدله د هلك پۀ سينه
ما پۀ خپل کور کښې د پرديو غوندې وخت تېروۀ
علم به فرض وي خو پښتو ده هيڅ حاجت نۀ شته دے
خلك به وائي چې فلانے وائي سبق پۀ لوښو
لکه قېدي د جېل آداب راته پۀ ګوته شول ټول
د دغه کور پۀ مشقت باندې معموره شومه
زما دپاره پۀ قانون کښې عذر نۀ ښکارېدو
زۀ د عزت، ذلت يوازې ذمه واره شومه
د خداے قانون زما دپاره پس منظر ته لاړو

ستا د غېرت پۀ تعزيرات کښې دا ليکلي وو چې:
" تۀ فېصله د زندګۍ پخپله نۀ شې کوے
د تا مقام ديو غلام دے خرخولے دې شم
د بغاوت پۀ تش ګمان باندې وژلے دې شم
تۀ چې پۀ کوم کورکښې ميشته ئې دغه کور دے پردے
دا در او بام، دا نغرے او دغه اور دے پردے
دا دې د ورونړو کور دے دلته مېلمنه شمېره ځان
فقط خدمت دپاره دلته کوربنه شمېره ځان
ستا پۀ اواز باندې قدغن دے ستا پۀ ناسته پاسته
د تا قصور ته به کتل شي پۀ عدسو کښې مدام
د تا قفس پسې به پورې وي کړکۍ همېشه
لکه قېدي چې مشقت کړي هتکړو کښې مدام"
د دې قېدي مارغۀ پنجرې د بدلېدلو وخت شۀ
د معاشرې پۀ دود دستور د ودېدلو وخت شۀ
زۀ لکه وينځه يا بدله شوم يا خرڅه شومه
لکه "زهرا" دې زۀ "علي" ته حواله نۀ کړمه
زۀ دا منم بابا چې زۀ د تا پۀ کور کښې ومه
خو بابا! زۀ د تا اولاد نۀ ومه، لور دې نۀ وم؟

www.pukhto.net

زوے خوبه تل دتاپۀ سیوري کښې خپل وخت تېروي
خو زۀ ورځم پۀ نالیدلو لارو تانه بغېر
څوك چې بهر ځي خلك پۀ لاس کښې څۀ هتیار ورکوي
زۀ درنه ځم بابا تا ماته پۀ لاس څۀ راکړي؟
د تا میراث به ستا وارث ته حواله شي بابا
بیا چې راځم نو دا به وایم چې د ورور کره ځم
خو خلك وائي چې هغه کور د خاوند دے زما
هغه به هم د خپل میراث مانه وارث وغواړي
او هغه کور چې خپل وارث ته حواله شي کله
نو بیا به وایمه چې زۀ اوس د خپل زوے کره ځم
زما د پښو لاندې جنت شته دے خو کور مې نۀ شته
اسلام راکړے حق چې راکړي هغه ورور مې نۀ شته
پوره د زمکې پۀ مخ دومره بې میراثه یمه
پردو کورونو کښې به کومه پورې اوسم بابا!

**زما د زلفو توره شپه خو جوړ پۀ ما باندې ده**
**یوه دعا ده راته پاتې چې"سحر" راشي**

❊❊❊

www.pukhto.net

٭

تا مې وعدې ولیدې، تا مې شجاعت ولیدۀ
ما دې دعوې ولیدې، ما دې شرافت ولیدۀ

تا لکه توره څو څو ځله کړم ګوزار په نړۍ
ما دې یارۍ کښې یو بې وخته قیامت ولیدۀ
تۀ د ګرګټ غوندې رنګونه بدلوه لالیه
ما دې انصاف ولیدۀ، ما دې عدالت ولیدۀ
ما شاړو دشتو کښې بلا بلا پښتو ولیده
ما په کېږدیو کښې بلا بلا حُرمت ولیدۀ
غلیمه تا د زغم عجبې نظارې ولیدې
ما د تهذیب په رڼاګانو کښې ظلمت ولیدۀ
تا د نړۍ د امامت په زوروړو سترګو
زما دې ملا ولید، زما دې اقامت ولیدۀ

تا په ډېر کبر د بارودو مېله جوړه کړله
"سحر" په وینو کښې لړلے عبادت ولیدۀ

www.pukhto.net

# نیمګړے ارمان

د کوهسارونو عزم
د سمندر حوصله
د بهارونو حسن
د رنګ او نور قافله
د شنو باغونو یوه سپلګره جینی
پۀ زړۀ د ګل غوندې زخمونه لري
د جبر ژوند تېروي
د خپل عصمت پۀ فکر
تل سرګردانه اوسي
لکه د زانې تمنا کړي د وسعت د پرواز

www.pukhto.net

خو لړزېدونکې تل لۀ تندر لۀ برېښنا نه اوسي
لکه چينه پۀ هر قدم ټکره
کاڼو نه لار بدلوي
تسلسل نۀ ماتوي
دا د چنار لۀ فطرت
دا کشميرى جينى ده
وګوره هسکه شوله
نن د وحشت پۀ بام ولاړه ښکاري
نن د برداشت لۀ حده تېره ښکاري
جوړې ملاله شوله
اوس ئې ټپه پورته کړه
اوس ئې بېرغ اوچت کړو
اوس ئې ټوپك ته لاس کړو
پۀ مړاوسترګوکښې ئې څۀ ښکلي خوبونه وينم

❊❊❊

www.pukhto.net

*

ځوك چې د سالو احترام نۀ كوي
فخر دې پۀ خېل او پۀ قام نۀ كوي

كله شچې خليل شي يا منصور شي عشق
طمع د ساقي او د جام نۀ كوي
پېښبه د ناموس ده پۀ دې كلي كښې
ښكلي اوس نازونه پۀ بام نۀ كوي
كله به وي خدايه چې تكميل د ذات
خلك چې ظالم ته سلام نۀ كوي
زۀ چې توډه وخورمه برباد شمه
وخت راپورې خاندي چې پام نۀ كوي
هر خوا تصويرونه دي د ګونګ وحشت
برند برند راته ګوري كلام نۀ كوي

نۀ به كړي ابلاغ دا د "سحر" غزل
هسې دې دعوې د ابهام نۀ كوي

www.pukhto.net

*

دا ژړېدلے سحر
دا غمزپلے سحر
د رڼاګانو امين
داسوزېدلے سحر
د رنګ او نور پۀ جلوو
ښۀ رنګېدلے سحر
دخپل ارمان پۀ اوښکو
دے لمبېدلے سحر
پۀ ښهو ستوري لري
داخندېدلے سحر
لۀ بيل بيل رنګ د موسم
دا لړزېدلے سحر
پۀ نظاره د فرېب
يو غوَلېدلے سحر
تل ستا پۀ نوم قربان وي
پۀ زړۀ ويشتلے "سحر"

* * *

www.pukhto.net

٭

تاته چې د ستورو رڼا ښه لګي
سترګو ته مې ځکه ژړا ښه لګي

عشقه تا که لَوے کړم لمبه به شم
ماته د لمنې هوا ښه لګي

ژغوري ئې بارخهٔ لهٔ شر د سترګو نه
ځکه ئې د زلفو بلا ښه لګي

مهٔ کوه کاتهٔ راته پهٔ برند نظر
ښکليه لهٔ هر څهٔ نه حيا ښه لګي

www.pukhto.net

حسن پۀ څو قسمه، پۀ څو رنګه خو!
وي چې پښتنه نو لېلا ښه لګي

هاغۀ لېوني چې کلے پرېښودو
اوس خو دا کوځه بېنوا ښه لګي

هر کمال د ناوې پۀ څېر پټ ساته
څوك وائي؟ بربنړه ښکلا ښه لګي

وريځ چې ستا د مينې شوه خوره پۀ خيال
اوس زما د مينې برېښنا ښه لګي

**ځکه "سحر" قدر د رقيب کوم**
**يار ته زما دغه ادا ښه لګي**

❊❊❊

www.pukhto.net

*

نۀ پښتون نۀ پنجابے يم
د دې خاورې يو سړے يم

زۀ سفير ومه د امن
چې اوس ولې خونړے يم
بې ثباته يو وګړے
چاته ګل چاته ازغے يم
پۀ نازك مړوند ئې بار شوم
دروند د اوسپنې بنګړے يم
تۀ نظر راباندې مات کړه
زۀ خو هسې سپيلنے يم
چې قصه د ځان کومه
خلك وائي لېونے يم

لکه ړوند تېکرې خورمه
چې "سحر" که ترور٫مے يم

www.pukhto.net

## بوالهوس

ما د ځوانۍ هر يو ماښام د تا پۀ نوم قربان کړو
ووم د عزت پۀ هر سنګر کښې ستا پۀ څنګ ولاړه
ما د خپل حسن هر يو جام لکه ساقي درکړے
خپلو پردو کښې همېشه د تا پۀ ننګ ولاړه

خپل حېثيت مې لکه خاوره کړو د پښو د لاندې
لکه غلام مې بې اجرته ستا خدمت کړے دے
تۀ مې د تن، تۀ مې د زړۀ، تۀ د اعصابو مالك
ما لکه خداے د تا د مينې عبادت کړے دے

هغه بچې، چې ښه خبره وم چې ستا بچي دي
بيا هم لۀ خپله ځانه سل ځله شېرين وو پۀ ما
نازبردارۍ مې ستا دپاره پۀ خپل ځان ګاللې
ستا د نسبت هر يو وګړے نازنين وو پۀ ما

زما پۀ شونډو د غربت ګيله راغلې نۀ ده
ما که څۀ وېلي دي نو تاته مې دعا کړې ده
ډېره پېښې ابله او سرتوره ګرزېدلې يمه
ما پۀ هر حال کښې د خپل قول سره وفا کړې ده

www.pukhto.net

نن پس د ډېرو ژړاګانو د خندا ورځې شوې
زماسوالونه خداے قبول کړل تهٔ دشتو خاوند شوې
هغه سړے ئې چې اختر ته به جامې نهٔ وې ستا
پهٔ چم ګاونډ کښې د قصو او د پېسو خاوند شوې

زهٔ د خپل خیال پهٔ کجاوه کښې کړم سنګار د سبا
هره کونه سنګاروم د سوزېدلي چمن
د زمانو ډېر حسرتونه مې پهٔ زړهٔ انبار وو
خبره نهٔ وم چې بخري مې پراتهٔ پهٔ لمن

ظالمه تهٔ چې نن ودان شوې نو کم ظرفه هم شوې
"پرون" دې څنګه ماته راکړوځنګه "نن" راکوې
زما د دومره لوے اخلاص او د وفا پهٔ بدل
ستادغه وس دے چې تحفه کښې ماته "بن" راکوې

ما د ګلاب غونډې ځواني د تا پهٔ نوم قربان کړه
خو کم اصلان د اصل وینې قدر څهٔ پېژني؟
نوې راتلونکې به پهٔ تا باندې توږه خوري ضرور
**چې بوالهوس د پاکې مینې قدر څهٔ پېژني؟**

www.pukhto.net

❊

موندږ پخپله پهٔ جنت اور لګولے دے که نهٔ دے
موندږ ګودر د جینکیو سوزولے دے که نهٔ دے

ستا د کلي پسرلي چې دا ځل تلل نو څهٔ ئې اووې
چېرې بیا ئې د راتلو خبر راغلے دے که نهٔ دے
عاملان چې د وطن ورته تصویر د حېرانۍ وو
هغه دېو د بې رحمیو چا تړلے دے که نهٔ دے
د ګلچینوحکومت کښې ، دمالیاروپهٔ غفلت کښې
تاروګے چې پهٔ ګلونو زنګېدلے دے که نهٔ دے
یو رنګین ښکلے سپېڅلے امېد ستا د برګو سترګو
مادحورې پهٔ ځېر پټ زړهٔ کښې ساتلے دے که نهٔ دے
ستا محفل ته پهٔ امېد زهٔ د یو روڼ سباون راغلم
پهٔ رڼا چې زما فکر رنګېدلے دے که نهٔ دے

چې دخیال دفرښتې لهٔ لاس ئې واخیست "سحر" خاندي
دا غزل د تا پهٔ شونډو لوبېدلے دے که نهٔ دے

www.pukhto.net

٭

ستا د څورولو عادت نۀ وۀ څۀ ؟
دا زما د مینے دولت نۀ وۀ څۀ ؟

زړۀ مې دې چې ورکړلو د بل پۀ لاس
هاغه یو ورکوټے قیامت نۀ وۀ څۀ ؟
ولې رانه پوښتې کېفیّت د زړۀ
سترګو کښې مې دا عبارت نۀ وۀ څۀ ؟
تا لکه زردار چې تندے تریو کړلو
اوښکو کښې د خوار محبت نۀ وۀ څۀ ؟
وئې ویشتم روغ ئې لېونے کړمه
دا ستاسو د چم شرافت نۀ وۀ څۀ ؟
مات لکه بنګړے ئې کړې ګوزار ئې کړې
زړه ! ستا د خلوص هم قیمت نۀ وۀ څۀ ؟

وخت چې د "سحر" لاسونه وتړل
هیچا ته د امن حاجت نۀ وۀ څۀ ؟

www.pukhto.net

# زړه ونه

تاته به یاد وي که به هېر وي ماته یاد دي ګله
نن نه پخوا ستا د ځوانۍ مالي پۀ ډېره مینه
د زړۀ پۀ زمکه د ګلونو کرونده کوله
پۀ دې ګلانو کښې د مینې بوټي هم نالېدو
تا هغه بوټي لګولي وۀ زما پۀ نامۀ
تاته به یاد وي تا پۀ اوښکو اوبۀ کړے وۀ تل
تا د خزان لۀ سپېرۀ باده نه ساتلے وۀ تل
د هجر تنده دغۀ ګل کله لیدلې نۀ وه
د غم لۀ تاوه ستا د زلفو سیورې بچ ساتلو
د وخت پۀ باړ کښې دغه ګل چې د ګل ونه شوله
ښه سایه داره شوه، ګلګونه مېوه داره شوله
تا او ما دواړو د خپل کر سیورې ته وخت تېروۀ
تا به مې غېږ کښې د ګلونو ننداره کوله

www.pukhto.net

څۀ موده وشوه دغه ونه خړه پړه شوله
داسې ليده شي چې د ونې آبياري نۀ کوې
ستا د وفا ناوې جوړ بيا نوے سنګار جوړوي
د وخت موسم ستا د خيالاتو نوبهار بدلوي
تا څۀ رنګين خوبونه وليدل خبر نۀ يمه
چې د ګل ونې پۀ ځاے تۀ نوي ګلان نالوې
زۀ يو تپوس درنه کوم ښکليه د خوږ زړګي نه
دا خو ظاهره ده چې دا خو به زرغون شي ضرور
خو زړه ونه چې ببځايه شي نو څۀ به وشي

**دا به زرغونه شي که وچه به شي تاته وايم ؟**
**تاته به يادوي که به هېر وي ماته ياد دي ګله**

❊❊❊

www.pukhto.net

❊

لکه د ګل که رژېدلے نهٔ شم
پهٔ دې موسم کښې اوسېدلے نهٔ شم

د بې وسۍ پهٔ دې بدرنګه نظر
د وخت رنګونه ټولولے نهٔ شم
تهٔ هغه کلي نه بهر نهٔ وځې
زهٔ هغه کلي ته درتللے نهٔ شم
ما د ضمير پهٔ مرګ ژړلي نهٔ دي
ځکه خو ځان پورې خندلے نهٔ شم
چې قبول نهٔ کړم نمرودي اوروڼه
دتا پهٔ زلفو زنګېدلے نهٔ شم
دغه انا زما قيمت کموي
ستا پهٔ بازار کښې خرڅېدلے نهٔ شم

زهٔ خو تضاد يم د تيارو د ديوتا
"سحر" يم ستړګې پټولے نهٔ شم

www.pukhto.net

*

ساعتونه دې د هجر که تراخهٔ دي
ښکليه بيا هم لکه ځان راته خوارهٔ دي

لکه ديد به دې پهٔ سترګو کښې ساتمه
خودغرضه خلك نهٔ ويني ړاندهٔ دي
زهٔ د نفس د غر پهٔ سيوري کښې ميشتهٔ يم
شراره د عشق رااووله سارهٔ دي
څو جلوې مې موسیٰ زړهٔ ته ورښکاره کړه
لکه طور مې د وجود کاڼي پراتهٔ دي
تهٔ د حسن سمندر ئې څهٔ به درکړم
زما سترګو کښې خو دوه څاڅکي اوبهٔ دي
تهٔ که کبر او غرور ته ادا وائې
د دې چم خلك غمونو کښې پاخهٔ دي

غرړو نيولې چې د عقل ښاپيرۍ شوه
د" سحر" شعرونه بيا د چا پهٔ خولهٔ دي

# ماضي

چې د وخت لهٔ ستونزو پټ شوم
کناره شوم
کناره څهٔ، د خپل ځان پهٔ ننداره شوم
پهٔ دا هسې ننداره کښې
د سکون لهٔ کوهِ قاف نه
د تېر وخت ښاپيرۍ راغله
لکه خوب د ماشومانو
د حسرت درياب کښې ډوبه
سندريزه
يوه قصه ئې پهٔ سرو شونډو راپيدا شوه
د وجود پهٔ لوے ميدان کښې
فرښتې د احساساتو
د جذباتو
**پهٔ نڅا، پهٔ ګډا سر شوې**

www.pukhto.net

*

لکه سُنبل زلفې خوَرې که زهٔ غزل لیکمه
جوړې پهٔ ما تورې تیارې که زهٔ غزل لیکمه

د وجودښار مې کړه تاراج د زړهٔ پهٔ تخت مې کېنه
بیا مې جوګه د نندارې که زهٔ غزل لیکمه
لکه ماشوم مې تخیل کړي تماشه د ژوندون
د خداے دپاره شونډې سرې که زهٔ غزل لیکمه
زهٔ به نن ځان د ګردابونو لهٔ احوال خبروم
ساحله! لرې کنارې که زهٔ غزل لیکمه
د وطن ناوې پهٔ محاذ وي کجاوو کښې نهٔ وي
ملالې بیا سوې نارې که زهٔ غزل لیکمه
پښتنه پېغله پهٔ سرحد کوي د شال انتظار
خدایه نصیب ئې ستارې که زهٔ غزل لیکمه

"سحر" وئیل که دې نژدې راته څوك نهٔ راپرېږدي
راته د ورایه اشارې که زهٔ غزل لیکمه

www.pukhto.net

*

شوخ نظر مې د چا سترګو کښې کرنګ شو
د عشق مزې کښې مې زړۀ لکه لونګ شو

لکه ستورے د قطب چې بې پروا وۀ
پۀ اسمان د تنهايۍ کښې آخر تنګ شو

نېك نصيب وۀ چې د کاڼي نه عقيق شو
اوس حاصل ورته د ښکليو خلکو څنګ شو

ما ګيله وکړه چې کېف او سرور نۀ شته
د ساده لالي نه جوړ بوټے د بنګ شو

www.pukhto.net

عاشق کوم دے ، رقیب کوم دے نۀ پوهېږم
پۀ دې شمعې خو ستي هر يو پتنګ شو

د ژوندون تراخۀ د هغه چا نه پوښته
چې کم اصل ئې ملګرے د پالنګ شو

تصور د ازادۍ پيکه پيکه شو
چې پابند د ازادۍ کله ملنګ شو

فرهاد خيال مې د هنر تېشه پۀ لاس کړه
هر يو شعر لکه شېرينه شوخ او شنګ شو

لکه خراړه د "سحر" پۀ انتظار شه
ښاپېرك د ماښامي پۀ تيارو رنګ شو

www.pukhto.net

# احتیاط

اے زما د خیال کونترې !
زۀ منم
چې تۀ پۀ خپل خلوص ډاډه ئې
تۀ د امن نشانه ئې
ستا پۀ ذهن کښې د پراخو فضاګانو
د الوت هغه زړه نقشه پرته ده
خو زما د خیال کونترې !
دا د تېر دور قصه ده
اوس فضا ده کرښې کرښې
اسمانونه دي وېشلي
د بارودو پټې بیلې
د ښکاریانو پټې بیلې
حاشیې او قدغنونه
لکه اور تاودۀ بادونه
هره خوا خطر خطر دے
اے زما د خیال کونترې !
**اوس الوت پۀ احتیاط دے**

www.pukhto.net

❊

زړۀ کښې محبت پۀ خولۀ دعا لرم
هر سړي نه طمع د وفا لرم

زۀ د ساده ګۍ د باغ مالي يمه
ګل غوندې احساس لرم، حيا لرم
زړه ! د بربادۍ ګيله لۀ چا وکړم
زۀ پۀ خپلو سترګو کښې بلا لرم
ما هم لکه اوراورګۍ مۀ وژنئ
زۀ هم پۀ وززو کښې رڼا لرم
ستا پۀ وړاندې څوك خولۀ پرانستلے شي
څۀ ؟ که څوابونه زۀ خطا لرم

وخته ! ستا تيارې به آخر تتې شي
خيال کښې څۀ وړه غوندې برېښنا لرم

www.pukhto.net

*

بیا ئې پهٔ خیال کښې تصویرونه کړم
پهٔ خپل زړګي کښې حسرتونه کړم

د وخت د ناوې د کټو پهٔ امېد
پهٔ خپلو سترګو کښې خوبونه کړم

د نوي کال د پشکال پهٔ طمع
ستا پهٔ کوڅه کښې امېدونه کړم

د خپل احساس پهٔ سوزېدلي چمن
لکه مالي يو څو ګلونه کړم

د ژوندانهٔ پهٔ دې ازغنه لاره
د پښو تڼاکې او زخمونه کړم

ستا د ښايست د ښېرازۍ دپاره
"سحر" لېمو کښې بارانونه کړم

www.pukhto.net

## حسن پرست

ما مینه هم لیدلې
ما هجر هم لیدلے
ما دګلونو، د ازغو فلسفې هم چاڼ کړې
زۀ څو څو ځله د جفا پۀ اور کښې سوے یمه
زۀ لکه کسے پۀ لېمو کښې ګرزېدلے یمه
پۀ سرو غرمو، پۀ تورو شپو کښې
لکه سترګه غړېدلے یمه
د ډېرو سترو او تجربو نه روستو
لکه د ستړي او هلاك مسافر

www.pukhto.net

زۀ لکه دیو پۀ خوب اودۀ شومه دځان سیوري ته
او پس لۀ ډیرې مودې
بیا راویښ شوے یمه
پۀ ځان پوهـ شوے نۀ یم
بیا مې جانان پیدا کړو
بیا مئین شوے یمه
بیا مې هجران پۀ نصیب
بیا مې ژړا پۀ برخه
زما د تیرو تجربو نه ماته څۀ حاصل شوو ؟

❊❊❊

www.pukhto.net

*

دځان حصار نه چې وتلے واے نو ښه به ښه وه
کاشکې چې زۀ دې پېژندلے واے نو ښه به ښه وه

د بېوسۍ دا نظاره دې چې ليدلې خو واے
زمونږ تر کلي چې راغلے واے نو ښه به ښه وه
چې به تر کومه د انا زغرې پۀ تن ګرزوې
بس دغه جنګ دې چې بائيللے واے نو ښه به ښه وه
بيا ئې لۀ قهره پۀ جبين کښې حسن سره لمبه شو
زما ارمان ئې چې سېزلے واے نو ښه به ښه وه
شداد قسمت کړلو جنت راته ارمان د جنت
بس يو قدم که پۀ مخ تللے واے نو ښه به ښه وه
د پسرلو هره لمحه ستا پۀ قدم کښې اوسي
لکه خزان دې ګوېڅلے واے نو ښه به ښه وه

دے منتظر "سحر" پۀ شان د سوزېدلې چنار
لکه باران پرې ورېدلے واے نو ښه به ښه وه

www.pukhto.net

*

بیا مې دې یادونه رابللي دي
زړۀ ته مې دردونه رابللي دي

لمانځمه ښکلا ئې د سرو شونډو نن
خیال ته مې ګلونه رابللي دي
تا به چې لیدل پۀ پسرلو سترګو
ما هغه خوبونه رابللي دي
ما خو تاب د دوؤ اوښکو نۀ لرۀ
تا خو بارانونه رابللي دي
زړۀ لکه سندان مې ورته ایښے دے
وخت نوی غمونه رابللي دي
تا چې پرې قسم او وعدې کړې وې
زړۀ هغه وختونه رابللي دي
کړه "سحره" توره د رڼا پۀ لاس
تورو شپو فوځونه رابللي دي

www.pukhto.net

# د لېوني خواست

اے اسمانه اے اسمانه !
ستا پۀ پراخو فضاګانو
د بهار وريځې خورې دي
لکه پېغلې د يورپ چې وي راوتې مېکدو نه
چې هر ځاے کښې ودرېدے شي
پۀ هر لوري باندې تلے شي
د چا کور ته ورکتے شي
اے اسمانه ! زما سوال دے
چې پۀ هغه کوڅه ورشي
او خبر د ښکلي واخلي
چې ئې څاڅکي لونګين شي
ورېدل ئې ګلورين شي
ددېدن لېواله کسو ته مې ټول احوال بيان کړي
بيا د سترګو لۀ اسمانه پۀ ګرېوان مې اووربږي
چې بدل شي موسمونه
د زړۀ للمې مې اوبۀ شي
او زرغون شي زيړ ګلونه

✲

ځان ته د ځان نه آکاش بېل جوړوم ښه به نۀ وي؟
لۀ خپله کوره ځان ته جېل جوړوم ښه به نۀ وي؟

ګلونه سوزي، ګلشن اور واخیست، ماحول لمبه شو
زۀ د سکروټو نه امېل جوړوم ښه به نۀ وي؟
پۀ دې خپل خپل کښې ګزاره نوره دزړۀ چاودون شوه
پۀ پردي خپل کښې ځان ته خپل جوړوم ښه به نۀ وي؟
د امېد مزے سپېرۀ څنګ لۀ ګلستانه یوسم
د سپاندې ګل نه چې رامبېل جوړوم ښه به نۀ وي؟
د وخت ګاڼې کښې بې لۀ ځانه نوره څۀ ارتاو کړم
د ژوندون ناوې له به تېل جوړوم ښه به نۀ وي؟
زۀ د لوېديز نه درستوم خپله قبله د ادب
نوے قطب، نوے سهيل جوړوم ښه به نۀ وي؟

خپل احساسات مې لۀ جذبوسره مېدان ته کوز کړل
"سحر"پۀ خپل وجودکښې کهېل جوړوم ښه به نۀ وي؟
✲✲✲

www.pukhto.net

✻

څومره بې وفا وختل دا خلك
غلۀ چې د لېلا وختل دا خلك
ما خو مسيحا د ژوند شمېرلي وو
زړۀ ته مې وبا وختل دا خلك
زۀ ئې د ګرداب پۀ منځ کښې پرېښودم
څرنګ ناخدا وختل دا خلك
تول مې ئې سيرت کړو د صورت سره
څومره بدنما وختل دا خلك
چا چې زۀ متاع د ژوند شمېرلے وم
ولې د بل چا وختل دا خلك
نۀ شيندي ديدن د سر پۀ بيه هم
دومره بې بها وختل دا خلك

دا به کوتپېزان وي "سحر" نۀ غواړي
ښکليه نابينا وختل دا خلك

www.pukhto.net

# يوه سندره

زۀ به اودۀ وم که نيم خوبه به وم
چې د خوبونو سلسلې شروع شوې
او داسې تل وي
خو زما د حافظې کمي ده
يا مې کارونه ډېر دي
چې خپل ليدلے خوب مې هېر وي سحر
خو دغه خوب راته تر اوسه پورې ياد پاتې شو
او هغه دا چې
سپين جامې او تورجامې د نړۍ
پۀ يو ځاے ناست دي ، مرکه غونډې وه
او ورسره پۀ خوا کښې
يو څو کسان دي ورنه کرښه تاو ده
څوك وو بربنډ پۀ وجود
د چا وو لاس تړلي
يوه سرتوره پېغله

بل لړزېدلے ماشوم
خوب عجیبه دنیا ده
هر یو امکان وي پکښې
مرکه پاڅي او اتڼ شروع کړي
او دا سندره وائي :
" راځئ چې پرې کړو د مظلوم نه ژبه
ولې ئې غږ د استحصال کړے دے "
داسې اثر ؤ پکښې
داسې هُنر ئې درلود
چې دا بربنډ او لاس تړلي خلك
هم په جذبه کښې راغلل
په دې اتڼ ورګډ شول
ټول په نڅا ګډا شول
او دا سندره وائي
" راځئ چې پرې کړو د مظلوم نه ژبه
ولې ئې غږ د استحصال کړے دے "

www.pukhto.net

✲

روایتي ډرامه کښې نوے کردار پاتې نۀ دے
ځکه کوڅه کښې دې د خلکو قطار پاتې نۀ دے

پخپله اخلي خپله څکي دلته د واك خاوندان
پۀ وېش د میو د ساقي څۀ اختیار پاتې نۀ دے
تر څو به وژاړم پۀ شخړه د تېر شوي تهذیب
چې لۀ تدفین ئې څۀ جواز د انکار پاتې نۀ دے
چې ورله اوس هم ځي راځي او پرې ګلونه شیندي
دې ادیره کښې خو یو داسې مزار پاتې نۀ دے
زړګیه تۀ چې خزان نۀ منې نو څۀ به منې
اوس خو یو ګل هم د تېر شوي بهار پاتې نۀ دے
رېباره وایه زۀ خبر یم لۀ ځواب د ښکلي
زما پۀ زړۀ کښې هغه ډار او ترار پاتې نۀ دے

خفه پۀ دا چې د چم خلك پۀ تیارو کښې خوښ دي
خوشحال پۀ دا چې د "سحر" انتظار پاتې نۀ دے

✲✲✲

www.pukhto.net

✲

ما چې رقیب ته خروي، ژاړي به
ما چې محفل کښې پروي، ژاړي به
هغه لا دومره بې ضمیره نهٔ ده
پهٔ ما چې خاورې اړوي، ژاړي به
چې شي اختر، ښکلي شي غاړه غړې
لاس کښې به لېچې ګروي، ژاړي به
چې سهېلۍ ورته صفت کړي د چا
سترګې به مړې مړې غړوي، ژاړي به
لکه تصویر به مې تصویر ته ګوري
ما به پهٔ مینه مړوي، ژاړي به
د بې وسۍ پهٔ دې سنګینه صحرا
ځواني به ډېره کړوي، ژاړي به

پهٔ رنګ دیوال چې د "سحر" تېرېږي
پټې به اوښکې دوړوي، ژاړي به

www.pukhto.net

٭

ژوند څو موسمونه دي بدل بدل
عمر څو وختونه دي بدل بدل

عشق یوه انتها ده د منزل پهٔ لور
مینه څو نومونه دي بدل بدل

سکوته بې غمي ده د جنون پهٔ نوم
عقل څو غمونه دي بدل بدل

حسن د ځوانۍ نه عبارت ګڼم
ښکلي تهمتونه دي بدل بدل

www.pukhto.net

نُور که د حیا او د عزت نۀ وي
مخ څو اندامونه دي بدل بدل

ځان یو تفاوت دے لۀ دنیا څخه
زړۀ یو څو خوبونه دي بدل بدل

رنګ که څو شغلې د رڼاګانو دي
سترګو کښې رنګونه دي بدل بدل

پوهه د شاعر ده تور اوربل د قام
خیال یو څو ګلونه دي بدل بدل

فکر بل مشال دے د "سحر" پۀ لاس
جهل ماښامونه دي بدل بدل

❊❊❊

www.pukhto.net

# کجورې ته خواست

زما درود او د سلام د سیمې
د قدر وړ خوږې شیرینې مېوې
قدآورې ستا یوه تشبیهـ د حسن
پهٔ خاص نسبت د چا نیازبینې مېوې

ئې علامت د رېګستان د ښکلا
خزان دې خوا ته یو پهٔ لس نهٔ رسي
ښکاري عاجز د ابرهه فوځونه
ستا استحصال ته د چا وس نهٔ رسي

www.pukhto.net

د هر زاړهٔ ډډ سره ځجخت پهٔ خوا کښې
بچے بچے دې نخلستان ليدهٔ شي
لکه نېزې پهٔ هره پاڼه لشه
پهٔ حفاظت معمور سپاهيان ليدهٔ شي

ستا سالميت که د الله ذمه ده
ستا حفاظت مو د ايمان برخه ده
ستا وجود طوق دے د لهب غاړې ته
زمونږ د دين او د قرآن برخه ده

د دومره هر څهٔ باوجود کجورې !
تا د خپل ځان د حفاظت پهٔ خاطر
پهٔ خپل وجود کښې ښاماران وساتل
خپلې بقا ، خپل عاقبت پهٔ خاطر

چې وې زما د عقيدت تاخانې
نن آماجګاه د ښامارانو شولې
هسې نهٔ بيا وشي لغزش لهٔ آدم
تا کښې ځوکې د ابليسانو شولې

www.pukhto.net

ښاماران کله حفاظت کړي د چا
دا خطره وي د مالیار دپاره
دا ناپاکي ده ستا پهٔ پاك وجود کښې
بې یقیني ده لوے اقرار دپاره

ستا پهٔ ناموس باندې چې ځان قربان کړي
لا خو دے ډك لهٔ سرفروشو جهان
خرما خرما دې لا د نور ډکه ده
ځکه "سحر" راځي ښهٔ رونړ، ښهٔ روښان

❊❊❊

www.pukhto.net

❊

تا خو وکړله خندا پهٔ سلامت زړهٔ
زهٔ به څنګه پوهومه بې همت زړهٔ

ورد د نوم مې دې د ژوند آب حيات دې
لکه پائي د مومن پهٔ عبادت زړهٔ

ستا د پاکې مينې دومره لوے تاثير دے
اوس لهٔ هيچا نه مې نهٔ کوي نفرت زړهٔ

سرومال لاپورې ما شيندلي نهٔ دي
ستا درشل ته يم ولاړ پهٔ ملامت زړهٔ

www.pukhto.net

هیڅ منزل به انتها د عشق نهٔ وي
خبر نهٔ وهٔ لهٔ دا هسې حقیقت زړهٔ

بې خطره د منزل پهٔ لور روان دے
شو د لارې د تیندک سره عادت زړهٔ

څاڅکے څاڅکے قرار پروت وي انتشار کښې
پهٔ بیا بیا مې څکه وکړو محبت زړهٔ

بیا د نهٔ راتلو پهٔ قول رانه رخصت شو
څکه غواړي مې پهٔ چغو قیامت زړهٔ

که "سحر" د تا پهٔ حسن منور شي
د سحر غوندې به چاک کړي د ظلمت زړهٔ

❊❊❊

www.pukhto.net

*

تَللے نـهٔ یـم، ازمـائیلے نـهٔ یـم
څنـګ پـهٔ معیـار پـوره ختلـے نـهٔ یـم

زهٔ پسـرلے یـم پـهٔ نخـرو راځمـه
لکـه خـزان زهٔ نـابللے نـهٔ یـم

لـهٔ ځانـه ورك یـم ځکـه بـچ پـاتې یـم
د ځـان پـهٔ اور کښـې سوزېـدلے نـهٔ یـم

سترګـو کښـې غـم تـه مـې چـا پـام ونـهٔ کړو
ځکـه پـهٔ برچ برچ ژړېـدلے نـهٔ یـم

www.pukhto.net

زهٔ لا د زلفـــو پېــچ و خــم کښـــې اوســـم
زهٔ لا پـــهٔ زلفـــو ونګېـــدلے نـــهٔ يـــم

نادانـــه مـــا خـــو وختـــي وربېلـــې
تـــا لا تـــر اوســـه زهٔ کـــرلے نـــهٔ يـــم

چـــې زمـــا ذکـــر وي نـــو پښـــه ونيســـي
ښکـــاري لـــهٔ خيالـــه ئـــې ايستلـــے نـــهٔ يـــم

چې سوز وساز شي رنګ و نور شي "سحر"
داســـې مقـــام تـــه رسېـــدلے نـــهٔ يـــم

www.pukhto.net

*

دا د بل کلي شرر دے
د تهذیب پۀ نامۀ شر دے

دا رڼا نۀ ده شغله ده
بینائي لره ضرر دے

زما خپله ډیوه مړه ده
پۀ خپل کور کښې مې خطر دے

زۀ محتاج د اوربلکې
پۀ تیارو کښې مې سفر دے

Pukhto.Net

د موجونو منځ کښې ګېر يم
بيا مې تا باندې نظر دے

پۀ حسرت شمعې ته ګوري
کوم پتنګ چې مات وزر دے

دا د لارو پېچ و خم دے
که خطا هر يو بشر دے

موسمونه اړپال شوي
پسرلے که بې هنر دے

ګدائي کښې ډېر درونه
او پۀ فقر کښې يو در دے

ښکاري بيا به غوټۍ ګل شي
دلته پاتې لا "سحر" دے

***

Pukhto.Net پښتو

## معذرت

زما جذبو، زما شېرينو جذبو !
زما متاع، زما نيازبينو جذبو !
ما تمام عمر ستاسو خيال ساتلے
ما واړه ژوند ستاسو نازونه وړي
اوس زۀ مجبور يم
د وخت ستونزو دا بدلون راوستو
هروخت احساس د اشنا ماته لکه غر ولاړ وي
د ځانه زيات
اوس د جهان پۀ غم اخته ليدۀ شم
يو څو کسان
يو څو رشتې
چې زما زړۀ کښې اوسي
زۀ د هغو د خوشحالو خوبونه هم وينمه
پۀ حادثه حادثه ژوند کښې
زۀ هر چاته دعا هم کومه
پۀ داسې حال کښې ستاسو
واړه جايز او ناجايز خواهشات څنګ پوره کړم

www.pukhto.net

❋

زۀ که باغ ارم نۀ يم، که وادي د ناران نۀ يم
ولې دا هم پته نۀ ده چې زۀ لوګ بيابان نۀ يم

خدا ے زده ولې چې زۀ بار يم د رقيب پۀ اوږو باندې
خوشبوئي يم ستا د زلفو، تندر نۀ يم طوفان نۀ يم

توقع تر خپله حده لۀ بل ښه وي خو اے ښکليه
زۀ تناب د شاميانې يم، زۀ پوره خيابان نۀ يم

لېونے لارو کوڅو کښې، څکه زۀ ورپسې ګرزم
لکه جام جم لا زۀ پۀ خپل وجود کښې جهان نۀ يم

www.pukhto.net

لۀ دې صبر داحساس مې فکر څار شه، جنون څار شه
پۀ ما واړه خلک ګران دي، زۀ د هیچا جانان نۀ یم

لوے معراج قدم بوسي ده، که دزړۀ کوڅوکښې هم وي
خېردے زۀ دې اقصیٰ نۀ یم،خېردے زۀ دې اسمان نۀ یم

لکه اوښکه د یتیم یم، پۀ ظاهر او پۀ باطن کښې
پۀ ظاهره ګوهر نۀ یم، پۀ باطن کښې ارزان نۀ یم

زۀ د ښکلي پۀ وفا او کرم دومره باوري یم
زۀ مسکن د جنتونو باشنده د نیران نۀ یم

آفاقي مینه بالا وي لۀ تفریق د رنګ او نسل
زۀ "سحر" یم ستا د کلي مغل نۀ یم ، افغان نۀ یم

❊❊❊

www.pukhto.net

*

د چا پهٔ زړهٔ کښې کرم پاتې نهٔ شو
ځکه مې سترګو کښې نم پاتې نهٔ شو

لکه یتیم مې پهٔ بې وسه زړګي
وخته ! ستا یو هم ستم پاتے نهٔ شو

داسې مانوس کړم حادثاتو د ژوند
ډار مې پهٔ زړهٔ کښې د غم پاتې نهٔ شو

د ظلم توره شوه باعث د عزت
د چا پهٔ لاس کښې قلم پاتے نهٔ شو

www.pukhto.net

کتلـے نـۀ شـم ننـدارې تـه د ژونـد
نـور مـې پـۀ سترګـو کښـې نـم پاتې نـۀ شـو

د مستقبـل خيالـي نقشـې تـه ګـورم
اِک يـو وګړی لـۀ بـم پـاتې نـۀ شـو

انســانيت وائـي پـۀ ټيټـو سترګـو
" د آدم زوی هـم آدم پـاتې نـۀ شـو"

چـې پـۀ يـاری ئـې نازېدلـو "سحـر"
ښکلـے اوس هغـه صنـم پـاتې نـۀ شـو

---

www.pukhto.net

*

تهٔ به زما ئې زهٔ به ستا يمه؟ يقين مې نهٔ شي
لکه د ګل به پهٔ خندا يمه؟ يقين مې نـهٔ شــي

چې پسرلي د ګوتو نخښې ئې سنګار ورانــوي
د هغه ګل به زهٔ بورا يمه؟ يقين مــې نـهٔ شـي

زړګيـه تـهٔ کـه راتـه هـر څومـره بـاور راکـوې
پهٔ زړهٔ به زهٔ د بې وفا يمه؟ يقين مې نـهٔ شــي

دومره نصيب؟ چې ستا پهٔ زلفو به اختيـار وي زمــا
لکـه بـه زهٔ بـادِ صبـا يمـه؟ يقيــن مــې نــهٔ شـي

www.pukhto.net

لکه بوډۍ چې ئې یوسف اخیست دمالګې پۀ تول
خریدارانو کښې بـه ستا یمه؟ یقین مې نۀ شي

دا مې باور نۀ شي چې تل به مې پۀ زړۀ لرې تۀ
خو زۀ به اوکه هېر لۀ تا یمه؟ یقین مې نۀ شي

خلق خو پرېږده که خپل ځان رانه تپوس کوي هم
د تا قصه به ورته ښایمه؟ یقین مې نۀ شي

چې بوے دزلفو، رنګ د شونډوپکښې نۀ وي د یار
داسې ګلونه به زۀ ستایمه؟ یقین مې نۀ شي

پۀ ما "سحر" باندې خو ګران دے لۀ خپل زړۀ او لۀ ځان
داسې به زۀ ګران پۀ اشنا یمه؟ یقین مې نۀ شي

www.pukhto.net

# بدبختي

زۀ شهادت کړم لَم یَلِد وَلَم یُولَد ئې ربه
زۀ ګواهي کړم لاشریك ئې او احد ئې ربه

زۀ هم قانون د لاالٰه الاّاللّٰه غواړمه
زۀ هم خېر غواړمه لۀ شر څخه پناه غواړمه

زۀ هم د حق پېروکار کفر نه نفرت کومه
زۀ د اسلام د سرحدونو حفاظت کومه

زۀ یو غریب وګړے ځکه مزدوري کومه
زۀ یم کفیل د بچو ځکه نوکري کومه

د خپل حاکم حکم منل وفاداري ده زما
ناموس د خوېندو بچ کول ذمه واري ده زما

لـۀ اور اوبـو د قـام بچـي زۀ رااایستلـے شمـه
هـر مصیبـت تـه لکـه خضـر رابللـے شمـه

زۀ پۀ صحراکښې يو پيکه بې رنګه ژوند تېروم
خدمت جذبه ده زما ځکه ئې پـۀ خونـد تېـروم

زۀ هم پۀ زړۀ کښې يو خواهش دشهادت لرمه
د هر باطل پۀ خلاف زړۀ کښې عـداوت لرمـه

زۀ لا تر اوسه پـۀ خپـل جـرم پوهېـدلے نـۀ يـم
زۀ د خپل ورور دې فلسفې ته رسېـدلے نـۀ يـم

رد بدمې بولي څو وګړي د خپل قام مې وژني
خفه پۀ دا يمه خاونده ستا پـۀ نـام مـې وژنـي

❊❊❊

www.pukhto.net

*

زنګــوي څومــره پــهٔ کمــال مشکنېــې
لــهٔ شمېــر ئــې وځــي د جمــال مشکنېــې

زمــا د فکــر مــزې څــوك پــرې کــوي
شي تــار پــهٔ تــار بــه مــې د خيــال مشکنېــې

بيـــا دې نمانځمـــه د وصـــال وختونـــه
بيـــا ښکلـــوم دې د رومـــال مشکنېـــې

تشـــې لمنـــې، وچـــې شـــونډې جينـــۍ
کومـــو ناترســـو کړې پايمـــال مشکنېـــې

بـــدل شـــو څنګـــه د مشکنېـــو وطـــن
اوس خوليـــدلې شـــي خـــال خـــال مشکنېـــې

سترګـــو کښـــې اوښکـــې غرېـــو نيـــولې "سحـــر"
تـــا چـــې پـــهٔ غـــاړه کړې د ســـوال مشکنېـــې

www.pukhto.net

*

د یــار شــونډو تــه حېــران دے د ګلاب رنــګ
پۀ جبین کښې ئې ښکاره دے د مهتاب رنګ

ستــا د سترګــو د دیــدن پــۀ تمنــا کښــې
زۀ پــۀ زړۀ کښــې ګــرزوم ستــا د نقــاب رنــګ

کلــه قــوس قــزح ستــا د اوربــل شـــال وي
کله خور شي پۀ صحرا کښــې د ســراب رنــګ

سمــاعت کــه د ســرود پــۀ مطلــب پــوهـ شــي
بیا بان کښې هــم موجــود دے د ربــاب رنــګ

www.pukhto.net

تــورې زلفــې دې پــهٔ ملا خورېـدل غــواړي
هــر ويښتــهٔ دې خــوروي د پېـچ و تــاب رنــګ

سلسلې د رنـګ و نـور دي پـهٔ چمــن کښــې
مــا ليـدلے دے شبنـم کښــې د آفتــاب رنــګ

دا موقــوف پــهٔ مېخانــه او ساقــي نــهٔ دے
پـهٔ ذره ذره کښــې شتــه د مــے نــاب رنــګ

لکــه څنګــه چــې ستــا حســـن لازوال دے
داسې عمــر رانــه غــواړي د شبــاب رنــګ

چې د مينــې اور پـهٔ مينـه مينـه سـوړ کړي
حسن هم لري پهٔ ځـان کښــې د دريـاب رنــګ

"سحر" وائي نور خو هر يـو رنـګ د يــار دے
تهٔ پـهٔ عجـز ورتـه پېـش کړه د خونـاب رنــګ

www.pukhto.net

دا دومـــره جـــور و جفـــا چـــا ســـره ده
ګلـــه ! ستـــا مهـــر و وفـــا چـــا ســـره ده

کړي درنه سوال خپل دروغجن مسکیتوب
چې ستا ربښتینې خندا چا سره ده

چـــې د تـــا شـــونډې مشـــابه کړي د ګـــل
جـــواز د داســـې ګنـــاه چـــا ســـره ده

چـــې څـــو قهـــرېږي لا ښـــائیست زیاتـــوي
سمـــه ئـــې دغـــه ادا چـــا ســـره ده

پـــهٔ دې تیـــارهٔ او طوفانـــي کوڅـــه کښـــې
د تـــا د سترګـــو رڼـــا چـــا ســـره ده

کـــانړهٔ ماحـــول کښـــې کاڼـــي کاڼـــي زړونـــه
مسیحـــا څـــوك دے ، دوا چـــا ســـره ده

"سحـــــره" ستـــــا د بـــــې ازاره زړګـــــي
د وچـــو شـــونډو دعـــا چـــا ســـره ده

www.pukhto.net

# ځان ته قرار وائي خو......

نن مې ټاکلے يو ګوهر دے د خپل زړهٔ پهٔ قيمت
چې دغه څوك دے چې ئې زهٔ شومه مجبورپهٔ صفت

هغه اواز د پښتنو، ښکلې نغمه د وطن
دے رڼاګانې خوروي چې کړي قصه د وطن
نن بې وطنه ځان ګڼي دا سرمايه دوطن
لهٔ نام نهاد تهذيب نه غواړي فېصله د وطن
ځان ته قرار وائي خو زړهٔ کښې ئې قرار نهٔ شته دے
ګلشن لري خو پهٔ ګلشن کښې ئې بهار نهٔ شته دے

د تورو زلفو، د ښکلا خبرې نهٔ کړي هغه
د برګو سترګو د لېلا خبرې نهٔ کړي هغه
د انتظار او د اشنا خبرې نهٔ کړي هغه
ګل او بلبل او د بورا خبرې نهٔ کړي هغه
هغه تورسرې پښتنې ته لوېټه غواړي تل
د ظالمانو نه د ظلم بدله غواړي تل

www.pukhto.net

که د ادب خبره کړې لکه د غر لیدهٔ شي
که د حیا قصه کوې لکه د لمر لیدهٔ شي
پهٔ خاموشۍ او سنجیدګۍ کښې سمندر لیدهٔ شي
دا یو خواشینې او خواخوږې بهادر لیدهٔ شي
د سامراجیانو مخنیوی کړي دا همت هم لري
پهٔ مړاوو سترګو کښې د کرب یو کېفیت هم لري

دا د قلم سپه سالار دے یو لښکر غواړي
اودهٔ پښتون چې کړي راویښ داسې هنر غواړي
د استبداد اوږدې تیارې پسې سحر غواړي
زمونږ نه مرسته، حمایت بسته کمر غواړي
ازاد پښتون دې غلامۍ کښې اوسېدلے نهٔ شي
د استحصال غمجنې شپې سبا کولے نهٔ شي

دا زهٔ "سحر" ئې شرافت ته هم تحسین پېش کوم
د دهٔ جذبې، د دهٔ همت ته هم تحسین پېش کوم
د دهٔ قلم کښې پټ حکمت ته هم تحسین پېش کوم
د دهٔ کلام کښې محبت ته هم تحسین پېش کوم
انسانیت ته چې "سلیم" جوړ شي "قرار" جوړ شي
چې اعتماد او اعتبار د خپل وقار جوړ شي

www.pukhto.net

*

دغه کوم لاس دے چې ئې کړل راتـه ازار پسرلـي
زمـونږ د سیمـې نــه پــۀ څــۀ لاړل کنــار پسرلــي

دومره پۀ بل نۀ، لکه وکړي چې پـۀ ځـان کـم عقلان
پښتـون لـۀ خپلـه لاسـه کړل انګـار انګـار پسرلـي

د پېښــور تـــازه ګلونـــه ئـــې پـــۀ اور واچـــول
د ځـان پـۀ بیـه ځـي، راوړي لـۀ قندهـار پسرلـي

ګـورئ زمـونږ د بې حسـۍ او بـې قــدرۍ ننــداره
د پښتونخـوا دا ګـل دړې او داسـې خـوار پسرلـي

www.pukhto.net

چې تور بارود ئې اوبه خور شي مالیاران بې هنر
پۀ دې چمن کښې به څنګ نۀ راځي خونخوارپسرلي

ځان د ژوندون د موسمونو واکداران جوړوو
د هر چا برخه کښې راغلي دي پۀ شمار پسرلي

مونږ به چې کله ندامت پۀ بدرنګۍ کړو د ځان
چې راشي دنګه غړې بیا لکه چنار پسرلي

د هر طبیب ذهن دے نن پۀ اجاره د غلیم
"سحر" دعا کړې ربه ښۀ مو کړې بیمار پسرلي

***

www.pukhto.net

*

ستا پهٔ جور و جفا هم لېونے خاندي
لکه پاس چې پهٔ انګار سپیلنے خاندي

خر سېلاب ته چې د شګو بند وهمه
پهٔ دې حال پورې مې خپل او پردے خاندي
د جنون پهٔ آئینه کښې ځان ته ګورم
لکه ډنډ ته ورپرېوتے سرے خاندي
پسرلي د وچو شونډو انځورګر دي
د مودو نه پس بې وسه لالے خاندي
ودانۍ د دیدنونو پهٔ راتلو ده
زمونږ کور کښې یو وروسپین نغرے خاندي
پهٔ امېد د وصل ځکه کلک ولاړ یم
ستا پهٔ زلفو کښې یو ګل صحرانے خاندي

دا پوښتنه د احساس لهٔ تیارو وکړه
چې پهٔ غېږ کښې ئې "سحر" کلنے خاندي

www.pukhto.net

❊

مړ شوے اور مــې د زړهٔ بيـا رابلـوي پـهٔ لمــن
د سترګو اوښکې مې چې ښکلے وچوي پهٔ لمن

ستا پهٔ کميس باندې ځلانده ستارې چې وينــي
جنون مې خاندي وائي ستوري دلوي پـهٔ لمــن
بهاره مهٔ چپړه قصـه د شبنـم، ګرانـه بـه شــي
که پهٔ سيالۍ شوه نو بيا اوښکې وروي پهٔ لمن
که د نصيب قصه کـوم نـو رسـوا کېږي مينـه
ما د ګلشن نه دي راوړي څـو ازغـي پـهٔ لمــن
د چم يارانو پهٔ جرګه به ځـو د يـار تـر کوڅـې
ما د لمنې واسطې ورکړې نـهٔ منـي پـهٔ لمــن
د مينې هغه يو ساعت نه دې قربان شي عمر
چې خپل جانان مې لهٔ غمونو پټـوي پـهٔ لمــن

ستاددېدن د خېرات ورځې رانژدې شوې جوړې
"سحر" خـو ځکـه نـوي ټوټـي لګـوي پـهٔ لمــن

www.pukhto.net

*

دا ستا نصیب که ستا پۀ سیله ټول عــالم ولاړ دے
دازما بخت دے چې پۀ ننګ مې خپل قلم ولاړدے

زمـا پـۀ خیـال کښـې د رازونـو خـزانې پټـې دي
څۀ؟ که پرې نن لکـه ښامـار د ستـا ستـم ولاړ دے
د تیـارو فـوځ بـه دې پـرې نـۀ ږدم د رڼـا وطـن تـه
زمـا د ځـان پـۀ حکـومت زمـا علـم ولاړ دے
بیا مې ښۀ کښـې ورتـه ستـوري کهکشـان جـوړوي
چې پۀ جبیـن ئې بیـا د زلفـو پېـچ و خـم ولاړ دے
څومره پۀ خیال مې د بنګړو ټوټې راغـونډې کړلـې
د رسـوایۍ ډنډورچي ګـوره پـۀ هـر چـم ولاړ دے
چرتـه چـې تـا زمـا د مینـې عبـادت کړے وۀ
پۀ هغـه ځـاے کښـې لکـه بـت زمـا قـدم ولاړ دے

لـۀ دې خیالـې دوزخ نـه واړوه نظـر "سحـره"
یـو جنتـې حسـن پـۀ شـونډو د ګلفـم ولاړ دے

www.pukhto.net

*

ښکلي خو بيا پۀ يو نظر لېونـي ولوګـول
مـا ئـې نظـر تـه د نظـر سپيلنـي ولوګـول

د زړۀ پۀ سيمه مې ئې تورو ښهو اور پورې کړو
کـه پورتنيـو خلکـو بيـا کاتنـي ولوګـول

داحساس داسې سره لمبه مې پۀ بدن پورې شوه
ډېـر ارمانونـه ئـې يـو دم وختنـي ولوګـول

مـونږ د پښتـو او د وفـا شمـع روښانـه ساتـو
مونږ پۀ کابل کښې ورته ډېر مېړنـي ولوګـول

www.pukhto.net

لـۀ بـد نظـره د غلیـم ساتـــو ښکلا د چمـــن
ورتـه مـو ځکـه څـو پېکــر نورانـــي ولوګــول

باده! د یـار د زلفـو لمـس دې پـۀ بـدن راوړے
کـه چا پـۀ لار درتـه سنبـل غرنـــي ولوګــول

خداے خبر رابه شي که نه، اوبه ئې وینم که نه
مـا د نظـر ستـوري پـۀ لار بېګانـــي ولوګــول

"سحر" خو زړۀ لکه کشمیر ورته بهاربهار کړو
ستـا بـــارودي نظـــر ګلاب سوسنـــي ولوګــول

❋❋❋

www.pukhto.net

*

پــهٔ دې کــردار د ناکــامۍ مــې ده نادمــه مينــه
چې ولې نهٔ شوه ستــا د ســرو شـونډو خادمـه مينـه
تــهٔ مــې د صبــر امتحــان اخلــه زهٔ وخ نــهٔ کــوم
زهٔ به داګورمــه چــې څومــره وي ظالمـه مينـه
د مقــدار نــهٔ ده دغــه تلــه د معيــار تلــه ده
پهٔ زړهٔ کښې څنګه ځائيږي هفت اقليمه مينه
د وجود واړه غلامان مــې ورتــه لاس پــهٔ سلام
چې مې د زړهٔ پهٔ حکومت کښې شوه حاکمـه مينـه
ستا دوفا د ډيوې نورمې که وجود کښې خور شي
لکــه منصــور پــهٔ ســر د دار بــه کړم قائمــه مينــه
جز که پهٔ جز بـدليږي کـل خـو تقاضـا کړي د کـل
پـهٔ حسـنِ کـل مـې ځکـه ځـار کړلـه سالمـه مينـه

لکــه "سحــر" چــې مجبــوري ده د تيــارو د بلا
داســـې وبـــا د نفرتونـــو تـــه لازمـــه مينـــه

***

www.pukhto.net

✻

د خوره خېل ادبي ټولنې پهٔ يوه طرحي مشاعره کښې
د رحمت الله درد صاحب پهٔ طرح ۰

پسرلي زړهٔ مې ډېر پهٔ مينه وکړل ګلونه
خزان ظالم وهٔ رانه وئې ريژول ګلونه

زمونږ د سيمې زرخېزي ته وهٔ حېران پسرلے
پهٔ هرسنګرکښې لهٔ سرو وينو ټوکېدل ګلونه

شوکوي څنګ به لهٔ شعور نه زمونږ دا ننداره
چې لهٔ ګلونو پهٔ ګلونو ورېدل ګلونه

دغه زما د بخت تيارهٔ ده چې زما د ګلزار
ستا پهٔ بازار کښې پهٔ نهٔ بيه خرڅېدل ګلونه

www.pukhto.net

خزان وهٔ مرګ داناڅنګ شو پاڼې پاڼې ګلشـــن
ګني تر اوسه پـهٔ ازغـو کښـې اوسېـدل ګلونـه

څوك به مې ګرم کړي پهٔ ګناه دعشـق دداسې ښکلـي
لکه ماشوم چې ئې اوربـل تـه ځورېـدل ګلونـه

سترګې مـــې ژاړي کفـــاره ادا کـــوي د جـــرم
بېګا ئې پـټ پـټ لـهٔ رخسـاره شوکول ګلونـه

د سپرلي خویه اشنـا هـار او د سنګـار دپـاره
"سحر" سپېدو راسې ځولۍ کښې ګرزول ګلونه

❊❊❊

www.pukhto.net

د خوږژبي او نوښتګر شاعر نادرخان علیل

د کتاب" رڼا زما د خیال" د مخکتنې پۀ موقع

## د رڼا کروندګر

د دې ګمنامو سیمو
یو ستړګه ور او غوړږور
خو یو بې وسه شاعر
چې د خپل قام او د خپل فن
ځان پوروړے ګڼي
د ښائیستونو نه رڼا اخلي
دا د کابل او د کشمیر
پۀ غم لړلے شاعر
تل د مروتو شاړو للمو ته باران هم غواړي

www.pukhto.net

د خپل اسلوب
دا خواریکښ سخنور
په خپل مضمون په خپل انداز کښې رنګانې کړي
دغه سرخېل د بغاوت
د دې تیارو په خلاف
لۀ قامه ګیله هم کوي
خو دا ګیله بېځایه
نۀ خطا کېږو مونږ په نوم د علیل
مونږ اعتراف کړو
چې هر چا دے پېژندلے علیل
مونږ اعتراف کړو
چې هغه دے کروندګر د رڼا

❊❊❊

www.pukhto.net

❊

راپنډ مې شي پهٔ زړهٔ د څو يادونـو تـور لوګے
کړي رقص لکه پهٔ سـر د انګارونـو تـور لوګے

دا چـا کړه د نظـره شنـه مستـي د پسرلـو
دا خپـژي چې لـهٔ سر د چنارونـو تـور لوګے

چا بيا پهٔ کربلاکښې پهٔ کېږدې پورې کړو اور
شو خور مے د احساس پهٔ مېدانونو تور لوګے

د زړهٔ پـهٔ بالاکـوټ مـې خطـره د زلزلـې
دخيال پهٔ هندوکش کښې مې پهٔ غرونوتورلوګے

www.pukhto.net

کوځه کوځه کښې جوړ شولو کابل کابل ماحول
په سکوټه پښتونخوا کښې د بمونو تور لوګے

دا چا کړې زمونږ ښار کښې د نفرت بټۍ بسیا
ګرزیږي لکه وریځ په چمنونو تور لوګے

پسخیږي ئې اوربل ته که وږمې زما د چم
لالي ته دے ورګران د بازارونو تور لوګے

"سحر" د خپلې خاورې په اخېر یمه اخته
که لرې مې کړو بیا لۀ دیوالونو تور لوګے

❊

www.pukhto.net

خومره بې وفا شولو توبه توبه
لاړو د بل چا شولو توبه توبه

ورځ وه، لکه سیوري بېلېدلو نه
شپه شوله، عنقا شولو توبه توبه

چا زهٔ د ګرداب پهٔ منځ کښې پرېښودم
څوك رانه پهٔ شا شولو ؟ توبه توبه

هغه چې قاتل زما د مینې وه
نن مې مسیحا شولو توبه توبه

پاك لكه یوسف مې زړهٔ ساتلے وهٔ
خامخا رسوا شولو توبه توبه

ما ئې هېروله د رخصت قصه
غم مې لا سِوا شولو توبه توبه

نهٔ وهٔ مرور بل د "سحر" پشان
دومره زر پخلا شولو؟ توبه توبه

❊

www.pukhto.net

سـزا د مینـې پـهٔ نفـرت راکـوي
بیـا اشـارې د بغـاوت راکـوي

نیـم جنتـي نیـم دوزخـي شـي سنګـار
څـو حـوالې د قیـامت راکـوي

لکـه لېمـهٔ پـهٔ غـم کښـې ډوبـه شولـه
لکـه د اوښکـې بـه رخصـت راکـوي

بیـا لکـه خیـال خـوروي زلفـې پـهٔ مـخ
بیـا مـې غـزل تـه علامـت راکـوي

www.pukhto.net

منم سرور به وي خمار به وي عشق
ماته خو توان د عبادت راکوي

د يار په مخکښې چې غندمه رقيب
ضمير به څنګه اجازت راکوي

د ګل موسم په غوږ راځيږي شولو بيا
بلنه بيا د محبت راکوي

ويښي به هغه پلوشې د "سحر"
څوك چې د ګل غوندې فطرت راکوي

www.pukhto.net

## بدلون

هغه سیوري چې زما وو
د ژوندون پهٔ دغو
تکنه غرمو کښې
ملهٔ زما د ساعتونو
د دردونو د غمونو
چې هر وخت زما پهٔ څنګ کښې
دوے پښې ابله به روان وو
نهٔ خفه نهٔ پرېشان وو
چې پهٔ ما تیارې خورې شوې
هغه خپل سیوري مې ورك شول
نهٔ مې بیا چرته لیدلي

www.pukhto.net

نۀ مې څنګ ته دي راغلي
نۀ مې پوښتي ساعتونه
نۀ دردونه نۀ غمونه
آئینه کښې چې د ځان نه
د خپل ځان پوښتنه وکړم
ترمې اوښکې راته وائي
" دا دنیا پۀ تغیّر باندې اباده
پسرلي به راخوربږي
تورې شپې به سبا کېږي
بیا به ښکلې رون "سحر" وي

❊❊❊

www.pukhto.net

*

تېر موسمونه را پهٔ زړهٔ شي نو بيا وژاړمه
يو څو ګلونه را پهٔ زړهٔ شي نو بيا وژاړمه

ستا ښکلې سترګې لهٔ حسينوافسانو ډکې وي
ډېر ارمانونه را پهٔ زړهٔ شي نو بيا وژاړمه
لکه چې خوب دښاپېرومې ستاپهٔ څنګ کښې تېروهٔ
هغه وختونه را پهٔ زړهٔ شي نو بيا وژاړمه
نهٔ يم خبر چې تعلق ته دې کوم نوم ورکړمه
خاموش لفظونه را پهٔ زړهٔ شي نو بيا وژاړمه
دغه کوڅې، دغه ماحول به وي خو تهٔ به نهٔ ئې
داسې خيالونه را پهٔ زړهٔ شي نو بيا وژاړمه

"سحر" به څنګه هېرومه د سحر انتظار
کړي لوظونه را پهٔ زړهٔ شي نو بيا وژاړمه

***

www.pukhto.net

*

زړګیه بیا مې د پښتو تر لیکې مۀ اړوه
ما خپل ضمیر سره پۀ داسې بدې مۀ اړوه
زۀ د خپل ذات خورو جذبو ته یو ترتیب ورکوم
احساسه بیا مې پۀ فریب د ځوانۍمۀ اړوه
ما د منزل پۀ لور بادبان سره خوارې کړې ده
ناترسه باده! بیا مې رُخ د کشتۍ مۀ اړوه
زۀ د بنګړو خوږې سندرې ته مېږه تره یم
وبه ترپېږم اژدها د کمځۍ مۀ اړوه
ستا د زلفانو هر یو ول خو بلاګانې شیندي
ما د منزل د پیچ و خم پۀ سختۍ مۀ اړوه
د لېونتوب سبب مې وپوښته ناترسه اشنا
زنځیر مې ګوتو کښې کړې پۀ کړې مۀ اړوه

"سحره" ځان ته هم دعا کړه او جانان ته ئې کړه
خو خود غرضي ده مخ لۀ نورې نړۍ مۀ اړوه

www.pukhto.net

٭

خدایه پهٔ تا سپارو د خپلو امېدونو چنار
نړۍ د سېلمې راله ولي پهٔ بمونو چنار

چې پهٔ سیالۍ کښې ئې پښتون شملې له تاو ورکوي
خدایه زرغون ساتې د هغو مېدانونو چنار
چې خپله زمکه، خپل اسمان، خپل موسمونه لري
خاورې به چاته پهٔ لاس ورکړي د خوبونو چنار
چا پښتنې لهٔ څهٔ ناکامه لهٔ مخ شال لرې کړو
که چا بیا ولمانځهٔ د ظلم پهٔ اورونو چنار
څنګه وعده کړي چې چنار به راته بیا نالوي
چا مې چې ژوبل کړل د کلو، د ښارونو چنار
تهٔ مې د امن پهٔ نامهٔ پهٔ زړهٔ کښې جبر کړې
ما کښې زرغون شول د بدل د رواجونو چنار

"سحر" ته ځکه ستا د کبر ماڼۍ ټيټې ښکاري
چې شولو دنګ د مظلومانو د اُهونو چنار

www.pukhto.net

*

هر يو ستم ته به کرم ووايم
دې خپل احساس ته به د زغم ووايم
ستا د محفل په جنتي اتڼ کښې
سندره خنکه به د غم ووايم
په اشارو کنايو نهٔ پوهېږي
کوي تکرار چې ورته سم ووايم
په کاڼو نهٔ کوي اثر سندرې
که ئې هر څو په زير و بم ووايم
انځورګري چې د ښکلا نهٔ کوي
ورته خيالونه به مبهم ووايم
د وخت په مخ چې خال د مينې جوړ کړي
داسې قلم ته به قلم ووايم

"سحر" به ټول عالم ته ستا د زلفو
يو زړهٔ راښکونکے پېچ وخم ووايم

www.pukhto.net

٭

د ژوند پۀ لار راسره مل دے جانان
راته لنډ کړے خپل منزل دے جانان

دا پۀ تيارو کښې غزونې راغلې
که راخور کړے مې اوربل دے جانان

ما هم پالې هم زما مينه پالې
ګوره پۀ دوه لورې مې خپل دے جانان

کومه رشته به لۀ ما پرې کړې هغه
هم مې ګرېوان هم مې ګوګل دے جانان

-------------------------

www.pukhto.net

دې لېونې سره چې مينه کوي
د لېونو په خيال پاګل دے جانان

په څۀ يرېږم لۀ زوال د مينې
چې نۀ رژېږي هغه ګل دے جانان

لکه په حسن کښې ثانې نۀ لري
داسې وفا کښې يو په سل دے جانان

زۀ ملامت يم په خپل وس "سحره"
زړګے مې اېښے په منګل دے، جانان!

www.pukhto.net

❊

ستا کبرجن مغزي ته هار او سنګار دواړه ښۀ دي
دا قاتلان د تا د حسن پۀ دار دواړه ښۀ دي

څنګه احساس دے؟ هم ګلچين غندو هم مني غواړو
دې تقاضې ته خو ګلچين او ماليار دواړه ښۀ دي

موقوف پۀ داده چې درون کښې دچاکوم موسم دے
چې زړۀ خوشحال وي نو خزان او بهار دواړه ښۀ دي

څوک د بې شمېره خواهشاتو پۀ زندان کښې اسير
د چا نهرو ته غنم او جوار دواړه ښۀ دي

www.pukhto.net

که ډېرامیر وي که دانا خو چې د ځان وي نو څهٔ؟
چې غم د بل لري نادان او نادار دواړه ښهٔ دي

ناخلف وروړ وي او که زوے ، د سړي ژوند کموي
چې باحیا وي نو بیا یار او اغیار دواړه ښهٔ دي

کېف اوسرور، سوز اوګداز زما د حال برخې دي
د خیال نخا ته مې رباب او ستار دواړه ښهٔ دي

"سحر" د شپو مخالف نهٔ دے، د تیارو دښمن دے
چې پُرانواره وي نو شپه او سهار دواړه ښهٔ دي

❋❋❋

www.pukhto.net

٭

ډېر مخونه ډېر رنګونه د دنیا دي
پټ ښکاره دي څۀ اشنا څۀ نااشنا دي

څوك محل کښې ناست د بل تابعداري کړي
څوك جونګړه کښې بې رویه بې ریا دي

ډېر تورمخي لکه کوچ پۀ زړۀ پاستۀ دي
ډېر لمرمخي پۀ باطن پۀ زړۀ سیاه دی

لۀ احساس د کمترۍ برترۍ خلاص دي
ځنې خلك څۀ بې نیاز او بې پروا دي

Pukhto.Net

www.pukhto.net

ثوك د بل جنت پۀ خپله نامه ليکي
ثوك د دين پۀ نوم دنيا ګټي لګيا دي

د کور ناوې ورته سپکه سپکه ښکاري
د بل کلي پۀ ډول مست زړې خطا دي

چې يوه سترګه دې ووځي بله ژغوره
غم لۀ غمه نۀ شرميږي دا رښتيا دي

د راتلونکو پسرلو کړو وړو ته ګوري
د "سحر" غوندې ډېر خلك پۀ ژړا دي

❊❊❊

❊

بیا دې کوڅه کښې ژړېدل پکار دي
لکه د پرخې ورېدل پکار دي

وخت چې پليتې کړې اوبهٔ د فرات
حسېني وينه بهېدل پکار دي

يزيدِيّست د مخنيوي دپاره
د کربلا پهٔ لوري تلل پکار دي

لکه طوطيان کړو"چوري خورې چوري خورې"
څهٔ پهٔ معنىٰ هم پوهېدل پکار دي

www.pukhto.net

د یار په چم کښې قصه ننګ ته لاړه
اوس په رقیب هم سر شیندل پکار دي

یوې شېبې له هوشمندي غواړمه
لهٔ خپله ځانه خبرېدل پکار دي

تور سترګي هم وو جابران د کلي
نن که شین سترګي شول زغمل پکار دي

پهٔ هر ګاونډ کښې امریکه او عراق
پهٔ خپل ګرېوان کښې هم کتل پکار دي

چې خوار پهٔ ګډه کړي مجبور "سحره"
داسې تهذیب لهٔ منځه وړل پکار دي

www.pukhto.net

❊

لاړو تېر شو د ګلونو دور تېر شو

د بورا د مکېزونو دور تېر شو

اے زړګيه دا د هجر مازديګر دے

د وعدو او د لوظونو دور تېر شو

تهٔ د وخت سېلاب پهٔ مخه کړې رانغلې

دلته هم د تندرونو دور تېر شو

لکه پاڼه د خزان ئې ځوړند سر کړم

د مستئ او د موجونو دور تېر شو

د ساقي د مخ کتو نه وزګار نهٔ شوم

بېخودئ کښې د جامونو دور تېر شو

پيکړې د بندېزونو ئې پهٔ پښو کړې

د لېلا د ديدنونو دور تېر شو

"سحر" شته دے خو زينت د سحر نهٔ شته

زما ژوند کښې د رنګونو دور تېر شو

www.pukhto.net

٭

خداے ورکړو د ګل د پسرلي فطرت
ځکه ورته برند شو د ازغي فطرت

بیا لکه د څانګې پهٔ شا لاړله
بیا ئې راژوندے شو د سیالي فطرت

څوك ئې د ساقي د جام محتاجه کړل
چا ته ئې بخښلے شرابي فطرت

وي نوراني خوے د نوراني خلکو
نهٔ لري لمرمخي معمولي فطرت

www.pukhto.net

څکه د سولۍ پهٔ سر خندان یمه
دا زما خواهش وهٔ، د لالي فطرت

څنګه ئې کړم لوټې د کابل پهٔ ښېر
نهٔ مني ظالم انقلابي فطرت

اوس به د نظر کاښې پهٔ پام ولو
لېچو ئې خپل کړے د بنګړي فطرت

څومره پهٔ ناز ناز پکښې بارود کړي
وخت څنګه بدل کړو د مالي فطرت

دا ئې جنتي زلفې لیدلې دي
غواړي چې "سحر" د ماښامي فطرت

www.pukhto.net

*

لۀ کُل عالمه بې نياز دې کړمه
پۀ ځان کښې ورك دې کړمه راز دې کړمه

جُز مقدم کُل مؤخر شي رانه
يو حقيقت ومه مجاز دې کړمه

عظمت د فن ، پۀ فنپاره کښې د ژوند
خپله تخليق، خپله جواز دې کړمه

ړوند او بينا لکه د سترګو کسے
څومره محدود، څومره دراز دې کړمه

Pukhto.Net
www.pukhto.net

جفا کښې مینه او وفا کښې حسن
په ځان مئین په هر انداز دې کړمه

کله بلال، کله ملاله دې کړم
داسې ناره، داسې اواز دې کړمه

درد د جهان چې درد سر شو زما
خلاص د وجود لۀ امتیاز دې کړمه

غزل غزل حسن ته ګورم "سحر"
نغمه سرا دې کړمه ساز دې کړمه

❊❊❊

www.pukhto.net

# نعت رسول مقبول صلی اللہ علیہ وسلم

********************

تیارو کړې کډې بار وځي لۀ ښار د مدینې
خورېږي رڼاګانې نن پۀ لار د مدینې
هجرت هم لاثاني دے، مهاجر هم بې مثال
لۀ سراو مال شول تېر ورته انصار د مدینې
پۀ ځائ ده که جنت سره سیالي کوي یثرب
چې دلته استوګن شولو سرکار د مدینې
نن ګوري پۀ حسرت به ورته غېږ د حلیمې
تقدیر پسرلے خور کړو پۀ ګلزار د مدینې
کوڅې د مدینې به جارو کېږي پۀ بڼو
د زرۀ پۀ وینو کېږي به سنګار د مدینې
امېد او ندامت د "سحر" سترګو کښې ولاړ
یو ځل کړه ورښکاره ښکلے بهار د مدینې

www.pukhto.net

# ترانه

ستا لۀ دې دنګو دنګو غرونو نه قربان شمه زۀ
وطنه ستا لۀ جنتونو نه قربان شمه زۀ

چې هر سبا پکښې سپېړې ښائيسته ګلونه
ستا پسرلو، ستا چمنونو نه قربان شمه زۀ

خپل مکتبونه، خپل بچي، خپل مستقبل لرو مونږ
لۀ دې وړو وړو ګلونو نه قربان شمه زۀ

ښومره حسينه ستالمن کښې د غېرت ناوې ده
د خپل شناخت لۀ سرحدونو نه قربان شمه زۀ

www.pukhto.net

ستا ننګيالي د سياچين په څوکه لوبې کوي
د ننګ او نام داسې فوځونو نه قربان شمه زۀ

چې کوم لاسونه ستاپۀ شاړوکښې ښکلاجوړوي
قسم پۀ خدائے داسې لاسونو نه قربان شمه زۀ

داوروروليې، دا مېلمستيا، دا ياراني د مينې
ستا ثقافت، ستا رواجونو نه قربان شمه زۀ

"سحر" لۀ خدائے د ازادۍ پۀ غريبت خوشحاله
ستا لۀ خوشۍ ستا لۀ غمونو نه قربان شمه زۀ

www.pukhto.net

❊

د زړۀ پۀ اور باندې ایشېږي اوښکې
لکه دوزخ کښې مې اوسېږي اوښکې

کله باران شي د زړۀ اور مړوي
کله پخپله لمبه کېږي اوښکې
د حیا بند دې ښکته څنګه راشي
پۀ ښکلو سترګو کښې ودرېږي اوښکې
لۀ غربوه ډك زړۀ او ګنډلې شونډې
خاص لکه پرخه راورېږي اوښکې
د جانان غم ورته لمسون کوي تل
خود به لۀ سترګو مرورېږي اوښکې
کله چې څې نو بیا د چا نۀ مني
پۀ تسلو نۀ ایسارېږي اوښکې

www.pukhto.net

دې نظارو نه نظر مۀ شوکوه
چې پۀ خولۀ خاندي او بهېږي اوښکې
د تا د هجر پۀ تيارو کښې صنم
لکه ډيوه راته بلېږي اوښکې
ستا پۀ لمن چې زما اوښکې وينې
د پسرلو ورته پسخېږي اوښکې
د توجه او د احساس پۀ ارمان
څنګه مې وړاندې روستو کېږي اوښکې
د چا لۀ غمه پسرلو وژړل؟
د ګل پۀ پاڼو معلومېږي اوښکې

"سحر" ئې سترګو ته کتلے نۀ شم
نۀ مې پۀ سترګو کښې ځائېږي اوښکې

www.pukhto.net

❊

چې دوه یاران سره بېلېږي دا اسانه نۀ ده
چې د جانان کښه بارېږي دا اسانه نۀ ده

رقیبه تۀ چې څۀ کوې تاته به ښه لیده شي
زړۀ چې د زړۀ نه راشوکېږي دا اسانه نۀ ده

پۀ دې بې ننګه پسرلو باندې باور نۀ کوم
مړاوي ګلان چې تازه کېږي دا اسانه نۀ ده

دچاپۀ خیال به داځواني او دا مستي وي مدام
وخت چې ښکلا ته ایسارېږي دا اسانه نۀ ده

www.pukhto.net

لکه مالیار ئې آبیاري کوم د زړهٔ پهٔ وینو
وړوکے غم دے چې لوئېږي دا اسانه نهٔ ده

ځومره خواري غواړي پوښتنه د بهار نه وکړه
چې نیمه شپه کلی ګل کېږي دا اسانه نهٔ ده

شونډې خرڅېږي زلفې هم خوزړونه نهٔ خرڅېږي
مینه لهٔ مینې پېدا کېږي دا اسانه نهٔ ده

کله لېلا چې لهٔ یو قېس ځنې مجنون جوړوي
مینه څو ځله رسوا کېږي دا اسانه نهٔ ده

تا خو اسانه کړه ناصحه چې ئې هېره کړمه
لهٔ ما "سحر" نه چې هېرېږي دا اسانه نهٔ ده

www.pukhto.net

❊

پۀ کوم يوځاے چې وۀ پرون د سرو لاسونو اتڼ
نن پۀ هغه ځاے کښې شروع دے د بمونو اتڼ

څوک به افغان بچي ته تللے اعتماد ورکوي ؟
پۀ لړزېدلي مخ ئې جوړ دے د رنګونو اتڼ

مونږ چې پخپله لۀ تيارو سره رشته جوړه کړه
د خوځو وار دے کړي د نُور پۀ مېدانونو اتڼ

زۀ يم قاتل د ماليار، زۀ يم کروندګر د ازغو
پۀ سره صحرا کښې چا ليدلے د ګلونو اتڼ

www.pukhto.net

د سترګو جنګ د نغري تر جنګه چا راوستو؟
تاپ دمنګي غواړې؟ګودرغواړې؟دجونو اتڼ؟

زمونږ قسمت کښې جوړې نۀ شته هغه پېغله دقام
چې پۀ سپين مخ ئې وۀ همېش د شنو خالونو اتڼ

چاته ئې وښايم څوك شته چې تماشې له راشي
دخيال پۀ غولي کښې مې جوړدے درازونو اتڼ

"سحره" پورته کړه ټپه چې پښتانۀ زنې بيا
د اغيار مخکښې کړي شروع لکه د غرونو اتڼ

***

www.pukhto.net

- - - - - - - — - - - - - - - - -

❊

وځم به لۀ ځان لکه برېښنا پۀ جار
ځان سره به ژاړم خو خندا پۀ جار

پټ مې بیا حلال کړه هیڅ پروا نۀ شته
وبه کړو د زړونو ښه سودا پۀ جار

خړ کور کښې میشتۀ یم د بنګلې یاره
خبر دے ماته مۀ وایه اشنا پۀ جار

ژوند لکه د شمعې عجیبه شولو
ځان کښې ښه تیارۀ لرو رڼا پۀ جار

- - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - -

www.pukhto.net

زۀ دې نمائش ته رسوائي وايم
نۀ ښکلوم ګل لکه بورا پۀ جار

سترګو د دنيا کښې ئې ازغے کړمه
ستائي مې محفل کښې چې لېلا پۀ جار

راشئ چې د مينې عبادت وکړو
کړم دغه اذان لکه ملا پۀ جار

زۀ خو تيارۀ نۀ يمه "سحر" يمه
تل دروغ پټېږي او رښتيا پۀ جار

***

www.pukhto.net

❊

د چا د زلفو د تورتم نه شرر وبوړنېدو
لۀ دې بلا بلا سنګار مې نظر وبوړنېدو
دا به زما د تبنتېدلي رنګ بلا وه ګني
څنګ د رېبار پۀ خولې راغلے خبر وبوړنېدو
بیا مې د بخت سپوږمۍ دوخت وریځوکښې پټه شوله
زما د صبر د روژې نه اختر وبوړنېدو
نۀ هغه جنګ د جینکو شته نۀ نغمه د منګي
لکه د مرګ یوه خاموشي ده ګودر وبوړنېدو
د ژوند کاروان ځان سره نوي موسمونه راوړل
د غم لۀ ټکنو غرمو مازدیګر وبوړنېدو
هره قصه د کمر پېټ شوه بې حسي خوره ده
زما پۀ زړۀ کښې د سندرو هنر وبوړنېدو

لکه د زړۀ مې زړۀ کښې پټ کړه هیڅ پروا مۀ کوه
سبا به وائې د تیارو نه "سحر" وبوړنېدو

www.pukhto.net

٭

زما د حال چانه پوښتنه وکړه
د خپل زوال چانه پوښتنه وکړه

د ژوند قصه وه بربوکۍ څنکه شوه
د دغه سوال چانه پوښتنه وکړه
د پېغلتوب لۀ شر که ځان خبروې
دې بد حال چانه پوښتنه وکړه
د زړګي کور مې دې که نۀ پېژندو
د رنګ دیوال چانه پوښتنه وکړه
زاړۀ فالونه خو دې ډېر وکتل
د نوي کال چانه پوښتنه وکړه
زما الفاظ درته ابلاغ نۀ کوي
زما د خیال چانه پوښتنه وکړه

ځان چې سنګار کړې د "سحر" پۀ مینه
بیا د جمال چانه پوښتنه وکړه

www.pukhto.net

## اوتې بوتې

څو يادونه مې په زړهٔ دي
څو وختونه مې يادېږي
يو ساده غوندې بهار وهٔ
څو ګلونه سپرېدلي
خوشبوئي ئې په وطن وه
که بلبل وهٔ که بورا وهٔ
که ساقي وهٔ که ماليار وهٔ
خوشحالي د واړو يوه وه
د يو بل په غم غمجن وو

www.pukhto.net

پۀ یوه ونه کښې وې جالې
د بلبلو ، د طوطیانو
نۀ خفګان وۀ نۀ تفریق وۀ
نۀ مسلك ،نۀ نظریه وه
څۀ د مینې معاشره وه
پۀ بهار کښې هم خوشحاله
پۀ خزان کښې هم صابره
نۀ څوك زیات وو نۀ څوك کم وو
نۀ سیالي، نۀ مایوسي وه
عجیبه رنګ د چمن وۀ
یوه ورځ موسم بدل شو
د مغرب د لورې وریځې
پۀ وطن باندې خورې شوې
څۀ بدله علامه وه

www.pukhto.net

بالاخر باران شروع شو
اجنبي غوندې هوا وه
نااشنا غوندې سېلاب وۀ
چې څۀ وو هغه ئې يووړل
د مزدور مزدوري نۀ شته
د خپل کور ديوال ئې ړنګ شو
د دنيا روزګار ايسار دے
هر طرف ته خساره ده
ډېر ستم زپلي زړونه
د حالت بدلېدل غواړي
بلبل خېر د چمن غواړي
او په چغو چغو ژاړي

***

www.pukhto.net

*

د جلب مزے پۀ اټکل ونیسه
لاس د ظالم لکه اتل ونیسه

ورنه چاپېر که د بڼو فوځونه
زما نظر لکه د غل ونیسه
د خطرو پۀ لار یوازې مۀ ځه
ځان ته عمل دلارې مل ونیسه
پل دې مونډۀ کړو که د وخت د ښامار
هر پېچ وخم ئے ول پۀ ول ونیسه
د فکر ناوې پۀ دا لار تېرېږي
څو مشالونه ورته بل ونیسه

"سحره" سل ځله که وخورې توږه
سترګې اسمان ته پۀ هر ځل ونیسه

www.pukhto.net

❊

سپلمکه ګل لري خو خار نۀ لري
انګور شراب لري، خمار نۀ لري

زۀ ورته ګورم د عبرت پۀ نظر
چې زړۀ لري خو غم د خوار نۀ لري

لکه قارون کړې دنیا بیل لۀ دنیا
غریب خو هغه دے چې یار نۀ لري

رښا ښکلا ده ، رښا نوم د حسن
سپوږمۍ سپوږمۍ وي که سنګار نۀ لري

www.pukhto.net

عجب دستور دے د ځوانئ د موسم
بهار چې تېر شي بل بهار نۀ لري

پۀ هست کښې هم يو نېست ميشتۀ وي مدام
چې زړۀ ئې روغ وي زړۀ بيمار نۀ لري

د چا پۀ کار چې د چا کار خلاصيږي
هغه پۀ کار د سړي کار نۀ لري

"سحر" پۀ ذات کښې وياړ د پرخې لري
خيال کښې ګلونه که قطار نۀ لري

❊❊❊

www.pukhto.net

*

ستا پهٔ ځوانۍ د نوبهار موسم دے
ځومره حسین او مزېدار موسم دے

زیړ مازدیګر او خوشبوئي د ګلو
دا خو د زړونو د اقرار موسم دے

الوول زلفې ویشتونکې سترګې
صیاده بیا لکه د ښکار موسم دے

راز د زړګي لکه صدف پټوه
داسې لیدهٔ شي د انکار موسم دے

ستا د مسکا د یو منظر دپاره
زما پهٔ زړهٔ د انتظار موسم دے

چې ګل ئې ونهٔ لید "سحر" ووئیل
"ځومره خړمخے، ځومره خوار موسم دے "

www.pukhto.net

***

ستاینه ستا د ظلم زور کړي خلک
ماته پهٔ صبر هم پېغور کړي خلک

دلته کښې تور وي او سوچه صفا شي
دلته بې جرمه سړے تور کړي خلک

څېرې خرڅېږي پهٔ دکان د پښتو
وخت سره سم مخونه نور کړي خلک

پښه راته مهٔ نیسه بس ومې وژنه
ګوندې ښادر راباندې خور کړي خلک

www.pukhto.net

ولې به نهٔ ځي د صحرا پهٔ طرف
جوړ چې مکان ورته لهٔ کور کړي خلك

چې نهٔ سالو لري نهٔ درد د سالو
څنګه به دا خلك سرتور کړي خلك

زهٔ به پناه کړم لړزېدلي وينبتهٔ
خو که د تا پېکے سمسور کړي خلك

پهٔ يو "سحر" خو دنيا ورانه نهٔ شوه
څوك خو به ماسره انځور کړي خلك

❊❊❊

www.pukhto.net

*

لاره ازغنه لهٔ ځان مهٔ جوړوه
بې بره ونه لهٔ ځان مهٔ جوړوه
چې هر سړے درنه لمن راکاږي
ببره غنه لهٔ ځان مهٔ جوړوه
جوړشه دردمن زړهٔ ، خو د نورو پهٔ غم
سترګه دردمنه لهٔ ځان مهٔ جوړوه
که د زمرو درنه پوره نهٔ شوله
هوسۍ ډارنه لهٔ ځان مهٔ جوړوه
چې وس دې کېږي سرهٔ ګلونه شنده
تشه لمنه لهٔ ځان مهٔ جوړوه
شه تاج محل، شه نندارہ د جهان
څیره پمنه لهٔ ځان مهٔ جوړوه

شډل پښتون حسن وي خوښ د "سحر"
لېلا ! کنجمنه لهٔ ځان مهٔ جوړوه

www.pukhto.net

*

پۀ رخسار دې كه ګلونه د چندڼ دي
منت بار زما د سترګو د ساوڼ دي

ستا د ياد د پلوشو سره غمونه
لكه زړې جونه يو ځاے پۀ اتڼ دي

ځينې اور دي ، ځينې دي اور لګوونكي
ځينې خلك بس پۀ مثل د بلڼ دي

خپلولي ئې د اخلاص پۀ تله تول كړه
پۀ دا څۀ؟ چې د لكۍ يا د كلڼ دي

www.pukhto.net

کم عقلان چې تُندمزاج شي داسې ښکاري
د ډېران خاورې په مرسته د خوپړ دي

د ارمان زړې مې څکه ستوري شمېري
د بخت ناوې ئې لا ناستې په برستڼ دي

څې په کډه ، بوراګانو ته سور اور شول
پښتونخوا کښې ګلدرې دي که ګلبڼ دي

که هر څو چرګان نارے د سباون کړي
په "سحر" باندې پراتۀ د غم داوڼ دي

www.pukhto.net

❊

پسرلي د تا د شونډو شاداب ډېر دي
ورته برند او پرنا وړي ګلاب ډېر دي
که زرګر حسن دې زر د مينې ګوري
د ښو لاندې مې ګوره سيماب ډېر دي
لهٔ خپل حده يو قدم اوړېدے نهٔ شم
زما زړهٔ کښې ستا د مينې آداب ډېر دي
بې سببه څوك موجونو ته ځان سپاري؟
پهٔ ساحل خو تماشبين د ګرداب ډېر دي
مېکدو ته ستا د سترګو بيا راستون شوم
که پهٔ ننګ زما منبر او محراب ډېر دي
چې ګوهر د مينې مومي بامراد شي
ګني هسې خو دې سيند کښې غرقاب ډېر دي

د ادب حد وي، ستا در وي لاځواب يم
ستا کوڅه کښې د "سحر" د خواب ډېر دي

www.pukhto.net

❋

د ژوند رڼا مې ستا د مخ د شرارو سره ده
د زړۀ نغمه مې ستا د زلفو د تارو سره ده

د يار سنګار خو نن د قتل اراده کړې ده
د يار خندا خو نن د سترګو اشارو سره ده

پۀ ستارو مې پۀ کفن باندې خپل نوم وليکه
زما خواهش دے او ستا مينه ستارو سره ده

د زلفو پړے دې راوله چې لاهو نۀ شمه
لا مې کشتئ د سمندر د کنارو سره ده

www.pukhto.net

رقیبه تاته نغرے دے ما ته دُر او ګوهر
لړۍ د اوښکو ئې پرته تودو ایرو سره ده

پۀ تورنقاب کښې ئې پټ مخ چې نیم ښکاره غوندې شو
ما وې برېښنا د تورو ګورو د تیارو سره ده

مسیحا ډېر دي خو د تا تر دره ځکه راغلم
چې دې پېشه ګورے د زړۀ د بیمارو سره ده

"سحر"به ئې څۀ کړم دچا در، دچاکوڅه کښې نۀ ده
د زړۀ مرغۍ مې د ارم د ښاپېرو سره ده

❊❊❊

www.pukhto.net

❊

که پۀ څوکو د چاړو وي خو پۀ کړي اقرار راشه
پۀ ورږمو کښې ځان تحليل کړه پۀ اوږو د بهار راشه

دځوانۍ پۀ مېکده کښې دخپل حسن شراب نوش کړه
لکه سترګه د سحر شه ، رهنما د سهار راشه

زۀ منم ماحول لمبه دے، زۀ منم وحشت خورېږي
يه هوسۍ زما د عقل ! څۀ پۀ ډار او ترار راشه

ګله ستا د شيش محل نه ډېرې دنګې ماڼۍ هم شته
که د ژوند ارتقا غواړې نو پۀ زېرمه د خوار راشه

www.pukhto.net

پورورے دے ماحول او هم ضمیر دروغو خلکو
چې غبږ وکړي مسیحا ته "منتظر دے بیمار راشه"

چې ئې تهٔ د سترګو تور وې ستا د سترګو ئې ازغے کړو
لکه غېر ئې خوا کښې کېنه، پهٔ ناره د اغیار راشه

د ژوندون پهٔ ادیره کښې خنګه چپه چپائي ده
د امېد ډیوې پهٔ لاس کښې پهٔ دعا تر مزار راشه

د وخت زلفې راخورې شوې د "سحر" پهٔ اوږو باندې
شرارې پهٔ رخسار کېږده لکه ناوې سنګار راشه

❊❊❊

www.pukhto.net

✻

لکه د پرې ګوډۍ ختلے یمه
د چا پهٔ ښنو کښې پرېوتلے یمه

زهٔ بیا تر هاغه ځایه تلل نهٔ غواړم
زهٔ ډېر د لرې نه راغلے یمه

لکه غلمے ستا د غرور پهٔ غونډۍ
یو ځلې بیا راټوکېدلے یمه

پرېږده پهٔ خپلو ښنو چې ودرېږمه
ولې پهٔ ګوته دې نیولے یمه

لکه د بت حېران یم نهٔ پوهېږم
چې چا پهٔ چا باندې بائیللے یمه

ستا د جنت د پرېښودو پهٔ احساس
لکه غنم پهٔ زړهٔ چاودلے یمه

www.pukhto.net

لکه د لارې بې قیمته بوټے
زۀ چا خوړلے ، چا توکلے یمه

خپل مې شیندي او دا تاویل پېش کوي
چې غبر پۀ زلفو کښې ټومبلے یمه

د برګ او ګل د مخ وینځلو پۀ خیال
"سحر" پۀ ځان راوربدلے یمه

❊

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

ستا د ناموس پهٔ خاطر زهٔ که شادان پاتې نهٔ شم
دا نېك بختي ده چې لهٔ داسې تاوان پاتې نهٔ شم

دزړهٔ پهٔ وينومې چې لويه کړې سپوږمۍ مې کړلې
خبردې زهٔ ستورے که اوس ستاداسمان پاتې نهٔ شم

يوځل مې وستايه پهٔ ژوندکښې خو د غېرو لهٔ خوا
چې خپل ضمير اوخپل نظر کښې ارزان پاتې نهٔ شم

چې پهٔ بدل کښې ئې رضا او روڼ سحر موندهٔ شي
د تورو شپو دې زهٔ لهٔ هغه ګريان پاتې نهٔ شم

لکه ناجانړ لامبوزن څو به لاس او پښې ووهم
آخر به زهٔ هم د خپل زړهٔ لهٔ طوفان پاتې نهٔ شم

ازاروي مې دې دنیا خو د برداشت تر حده
الله دې نهٔ کړي چې پهٔ ذات کښې انسان پاتې نهٔ شم

که رُخ د بادِ مخالف مې چېرې ونهٔ څارهٔ
لکه حباب به زهٔ حصه د باران پاتې نهٔ شم

لکه مئین سترګې اسمان ته دا دعا کومه
چې د قلم او د ادب لهٔ کاروان پاتې نهٔ شم

څکه خو نهٔ پرېږدي "سحر" مدام د عجز لمن
چې لهٔ نظر او لهٔ کرم د جانان پاتې نهٔ شم

www.pukhto.net

ستا پهٔ رخسار باندې رنګونه ژغورم
زهٔ به تر څو پورې ګلونه ژغورم

تهٔ خوشحالو سره هم پام نهٔ کوې
زهٔ لهٔ غمونو نه غمونه ژغورم

د وخت خپسه مې پهٔ ژوند پرېوته
څومره پهٔ ګرانه خپل خوبونه ژغورم

خلك لهٔ تندر نه ځانونه ژغوري
زهٔ لهٔ ازار نه تندرونه ژغورم

د محبت د تبرك پهٔ توګه
د پښو تنهاکې او زخمونه ژغورم

لکه پېزوان د بې وسۍ باوجود
د وخت د سرو شونډو سرونه ژغورم

هسې نهٔ هوش ئې رانه وتښتوي
پهٔ لېونتوب کښې زنځیرونه ژغورم

لکه مالیار ئې آبیاري کومه
"سحر" د ګل غوندې یادونه ژغورم

***

## نااُمېدي---------

د خپل خيال په شبستان کښې
د ژوندون په بيابان کښې
د وخت ستونزو سره مل وم
لړزېدونکي تورتمونه
ژړونکي ارمانونه
د بوشتيځ پشان د وږي قدمونه
پرزېدل وو لټېدل وو
تر منزله رسېدل وو
بې وسی، بې بختی دواړې
لکه اوښکې زما سترګو کښې ولاړې
نهيلي مې راته غر شوه
چې د رحم فرښته مې په نظر شوه
چې تيارو کښې ګرځېدله
رانه مخکښې مخکښې تلله
په دا هسې بې رُخی زهٔ په ژړا شوم
ما ګيله د بې حسی ورته کوله
دې وې زهٔ خو ستا په لار کښې
ګله غنې ټولومه
تاته لارې جوړومه